

عبدالغفور لیوال

# سلسال
# او
# شاهنامه

# سلسال او شاه‌نامه

عبدالغفور لیوال

بسم الله الرحمن الرحیم

**د کتاب ځانګړنې:**

**د کتاب نوم:** سلسال او شاه‌مامه

**شاعر**: عبدالغفور لېوال

**خپروونکی:** «وطن ادب» د نومهالیو ادبیاتو د څېړنو انستیتیوت

**ډیزاین** : ودان لېوال

**چاپکال:** ۱۴۰۴ لمریز

**چاپوار:** لومړی

چاپ حق له شاعر سره دی.

## سلسال او شاه‌مامه
## د مینې او انساني قانون سندرې او خبرې

«دلته وینه بهول لویه ګناه ده
د بامیان د خلکو شوې دا سلا ده»

«دلته کور، کلي او غره کې ژوند روان دی
په امان دی که حیوان دی که انسان دی»

که د **عبدالغفور لېوال** شاعرۍ ته یو ځغلندنظر وشي، هلته به ولیدل شي چې ده له لومړۍهوسۍ نه نیولې، بیا تر سلسال او شاه‌مامه پورې منظومې تخلیق کړې دي. لېوال لومړۍ هوسۍ داسې یو بزرګ انسان ته د کتنې له‌پاره په لاس ورکړه چې هغه د خدای په دربار کې یو منظور او مقبول شخصیت و، علامه رشاد ته؛ هغه منظومه په استادانه ډول له نظره تېره کړه او د مقدمې په ډول یې داسې څو کرښې پرې ولیکلې چې تر نن پورې د شاعر لېوال له‌پاره او د هریوه لوستونکي له‌پاره د یوه درس بڼه لري. د هغې مقدمې په ترڅ کې علامه بابا د شاعر لېوال په باب یوه وړاندوینه او یوه لنډه دوعا کړې وه:

«زه ځوان شاعر(عبدالغفور لېوال) ته د دې ابتکاري تخلیق مبارکي وایم، د ده استعداد زما په زړه کې دا هیله پیدا کړې ده چې دی به د پښتو ادب لپاره د تخلیق په برخه کې ډېر بریالی وي. زه د ده د برې دعا کوم»

(لېوال عبدالغفور، هوسۍ، د پښتنې فرهنګ د ودې ټولنه، ۱۳۷۶ وری ۱۹۹۹ اپریل، د رشاد صاحب سریز: الف -و مخونه)

وړاندوینه سمه وه، دوعا هم د خدای په دربارکې قبوله شوه او لېوال وتوانید چې د څو منظومو په تخلق سره د پښتو شاعرۍ پر هسک زرین دېوال باندې څو زرینې خښتې وراضافه کړي چې «سلسال او شاه‌مامه» يې يوه بله نوې زرينه خښته ده.

د عبدالغفور لېوال د منظومو په باب ما پخوا د خپل فکر او تجربو په دايره کې ځينې مقالې او يادداښتونه خپاره کړي دي، په دې مقاله کې به د لېوال صاحب د نوې منظومې (سلسال او شاه‌مامه) په باب، په منظومې کې د انځورکړای شوي داستان او د لېوال صاحب د شعر د نويو تجربو په باب څو لنډې خبرې وکړم.

د ۲۰۲۵ ام کال د اپریل په اوومه نېټه، غفور لېوال د يوې نوې منظومې د تخليق زيرى داسې خپور کړ:

«خوښ يم، چې د زړې اريانا د پاروپاميزاد په لمنو کې د باميکان و زاړه زابلستان په وياړلي مدنيت پورې تړلې د عشق او مينې د يوې بلې حماسې د سندريز کولو زيرى درکوم.

د ساکي «سلسال» او د باميان د مير د نازولې لور شاهزۍ «شاه‌مامې» د مينې و وياړ منظومه پيل شوې ده.

دا منظومه به مو د باباغره د لمنو د غرنيو ګلونو په وږمو ونازوي، د شاه‌مامې ښکلا ته به د تخيل په ټال کې وزنګيږئ او د شاه‌زوى سلسال له پولادي متېو به د انسان‌ژغورنې د حماسو تندريز اوازونه د تاريخ له کنګرو څخه واورئ.»

آصف بهاند په کامنټ کې داسې ورته وليکل:

ټولو فرهنګي دوستانو او لېوال صاحب ته دې مبارک وي!

هیله ده چې لکه نورې منظومې، «سلسال او شاه‌مامه» هم د پښتو شعر د زرین دېوال یوه قیمتي خښته شي.
د «سلسال او شاه‌مامه» د بشپـړېدو په هیله.

**اوس د سلسال او شاه‌مامه په باب:**

لېوال د «سلسال او شاه‌مامه» د منظومې په پای کې د«څرګندونې» ترسرلیک لاندې د ځینو نومونو، اصطلاحاتو او ځایونو شرحه په لنډډول راوړې ده چې د منظومې په لوستلو کې له لوستونکو سره مرسته کوي.
په همدې برخه کې یې د «سلسال او شاه‌مامه» په باب داسې لیکلي دي:
«د «سلسال او شاه‌مامه» کیسه، په ساده بڼه د افغان ولس ترمنځ د یوې فولکلوریکې افسانې په بڼه شته، یو شمېر لیکوالو هم رااخیستې، له هغې ډلې ارواښاد خلیل الله خلیل رانقل کړې او ښاغلي جواد خاوري هم په «شګفتي های بامیان» کتاب کې خوندي کړې ده. د دغې منظومې زړی هماغه فولکلوریکه کیسه ده.»
دغه راز لېوال د یادو څرګندونو په اتمه شمېره کې د «شاه‌مامه» په باب داسې لیکلي دي:
«شاه‌مامه: شاه‌مېرمن یا ملکه یې لغوي مانا اخیستل شوې ده، اریانا دایرةالمعارف لیکي، چې: «په اسطورو کې [د بامیان] ۵۳ متري مجسمې ته (صلصال) او ۳۵ متري مجسمې ته شاه‌مامه ویل کېدل، چې لومړی یې نرینه او دویمه یې ښځینه ګڼل شوي دي.»
او د «سلسال» په باب لیکي:
«سلسال: د بامیان لویه مجسمه ځینو (سلسال) او ځینو نورو (صلصال) ګڼلې ده. سلسال د خوږو، یخو او رڼو اوبو بهیر ته وایي، چې ترستوني تېریـږي. همدا راز تر ستوني تېرېدونکیو پستو شرابو ته هم ویل کېـږي.

## سریزه/ ٤

صلصال له شګې سره ګډه شوې خټه، ښه خټه، هغه خټه چې لا ورڅخه خټين لوښی جوړ شوی نه وي.

خوشال بابا فرمايي:

محبت د همای سيوری دی که څه دی
که کيميا دی، زر کوي سنګ و صلصال

که څه هم د مجسمې ظاهري بڼې ته په پام به د «صلصال» نوم ورلنډ وي، خو په دوو دلايلو د «سلسال» نوم غوره بريښي؛ لومړی دا چې دا «شاه‌مامه» سره په غبرګون د شخص نوم دی، نه د خټې. دويم په کيسه کې د اوبو او د اناهيتا ونډې ته په پام د خوړو او رڼو اوبو په مانا دلته اسم بامسما ګڼلای شو.»

په خپله لېوال د منظومې په متن کې د «سلسال» او «شاه‌مامې» په باب په هنري ژبه خبرې کړې دي. د منظومې په متن کې شاعر شاه‌مامه داسې راپېژني:

«... شاه‌مامه د باميکان د پاچا لور ده
د اوبو د الهې ژوندی حضور ده
شاه‌مامه د لمر د وړانګو غوندې سپينه
د سوريا په ترانو يې ده پرېولې
په دې پېغلو کې همدا تر ټولو ښکلې ...»

دغه راز د منظومې په متن کې شاعر په خورا لوړ او هنرمندانه نوښت سره «سلسال» داسې راپېژني:

«له هرځايه راټول شوي دي ځوانان بيا
د هوسيو په ښکار وتي دي ښکاريان بيا

په ښکاریانو کې یو ځوان ښکاري سلسال دی
د سرکښه اس په شان یې مټ او یال دی
غنمرنگه، کنجک بریت او تورې څڼې
پلن ټټر یې د پینځو سرتېرو ډال دی

**په منظومه کې نوي انځورونه او نوي شعري ترکیبونه:**

لېوال لکه د نورو منظومو په څېر، په دې منظومه (سلسال او شاه‌مامه) کې هم په موضوع، ځایونو او پېښو پورې اړوند؛ د انځور جوړونې ښې او نوې تجربې کړې دي. ما د لېوال تربحث لاندې منظومه څوځلې ولوستله او د لوستلو په ترڅ کې به مې د دې منظومې نوي انځورونه او نوي شعري ترکیبونه په نښه کول. زه ادعا نه کوم چې زما دا کار به د ټولو لوستونکو لپاره د منلو وړ وي، خو د دې خبرې کولو حق ځان‌ته خوندي گڼم چې ووایم: د لېوال په «سلسال او شاه‌مامه» کې زما له نظره دا انځورونه او شعري ترکیبونه نوي دي:

**د غرونو غاړه‌کۍ:**

«ترې راتاوه غاړه‌کۍ د دنگو غرونو» (لومړی‌سرود)،

**له اسمان سره د گاگرو جنگېدل:**

«کلکې گاگرې یې اسمان سره جنگیږي» (لومړی‌سرود)،

**د نجونوخېل:**

«بیا سپرلی دی او د نجونوخېل وتلی» (دویم سرود)،

**د غشي‌نڅا:**

«شغ شو غشی په نڅا د باد څپو کې» (دویم سرود)،

**د باران ملکه:**

«د باران د ملکې چې زړگی تش شي» (دویم‌سرود)،

**د هوسیو اوښکې:**

«د هوسيو اوښکې وينئ که ړانده ياست؟» (دريم سرود)،

**غر له ځايه ايستل:**

«واه دا څه حسن، دا څه غرور دی خدايه»

څه خوږه غوسه چې غر باسي له ځايه» (دريم سرود)،

**د غرور الماس:**

«ورو يې شونډو زمزمه کړې دا خبرې

د غرور الماس دې مات کړ ملغلرې» (دريم سرود)،

**د تور اوربل نڅا:**

«په خندا يې يوه شوخه ادا وکړه

تور وربل يې په هوا کې نڅا وکړه» (دريم سرود)،

**د سورغر پـړک:**

«سرې غالۍ يې د سورغر د پـړک په شانې» (څلورم سرود)،

**گوتې په څنګو کې لار باسي:**

«د مور گوتې د زوی څنګو کې لار باسي

او له زړه نه يې د پټ راز مهار باسي» (څلورم سرود)،

**د ستورو رمه:**

«او د ستورو يوه پنډه رمه څري» (څلورم سرود)،

**طلايي کمرونه:**

«د باميان د رود په غاړه چينارونه

مازيگر دی، طلايي ښکاري کمرونه» (پنځم سرود)،

**د مچکې خرپ ته د اوبو ريـږدېدل:**

«د وروستۍ مچکې خرپ ته اوبه ريـږدي» (پنځم سرود)،

**د رڼا ريـږدېدل:**

«رڼا ريـږدي د خوشبو پيلوځي دود ته» (شپـږم سرود)،

**د سپېڅلې سوما اور:**

«د سپېڅلې سوما اور رګو کې ځغلي» (پنځم سرود)،

**ژوند د اسمان د تندي ټیک:**

« دا څه تریخ برخلیک زما په برخه لیک دی
چې ژوندون مې د اسمان د تندي ټیک دی» (اتم سرود)،

**سمندر د رودڅپه:**

«چې په خوږ سلسال دې روح او زړه تکیه وي
سمندر به هم د رود یوه څپه وي (نهم سرود)،

**مرګ پر برکنډو درول:**

«لوی خطر دی، هر پړاو کې دیو په څَو دی
مرګ د لمر غوندې ولاړ په بر کنډو دی» (نهم سرود)،

**د قدرت لاس:**

«د قدرت لاس دي تراشلي تالارونه» (لسم سرود)،

**د باد کوکارې:**

«کله کله په کې باد وهي کوکارې» (لسم سرود)،

**د رڼا کړۍ:**

« د رڼا یوه کړۍ ورنه تاویږي» (لسم سرود)،

**پر ګرمواوبو باندې د زلفو باریدل:**

«خورې زلفې یې په ګرمو اوبو بارشوې» (لسم سرود)،

**د سهار پل:**

«د ختیځ شفق کې پل د سهار ښکاري» (لسم سرود)،

**د روح لمنه:**

«راځئ راشئ دواړه دلته زما خواته
چې د روح لمنه ونیسو رڼا ته» (یولسم سرود)،

**د رڼا ړنګېدل:**

«شېبه راغله، چې تالار کې خاموشي شوه

په کې ړنګه نقره رنګې رڼایي شوه» (دولسم سرود)،

**د سکروټو غر:**

«کله کله تر شېبره سر راباسي

له سپږمو نه د سکروټو غر راباسي» (پنځه‌لسم سرود)،

**د لمبو درمند:**

«تر هغو یې چې سر تاو کړ هغې خوا ته

سلسال ووت د لمبو د درمند شا ته» (شپاړسم سرود)،

**د ښامار غضب:**

«ټول وجود یې د لمبو په لوګي تور دی

غر سیزلی د ښامار د غضب اور دی» (شپاړسم سرود)

**د زلفو اژدها:**

«د دنګ ځوان په شوندو غلې شان موسکا ده

د شهي په مخ د زلفو اژدها ده» (شلم سرود)

**ډبرین تاج:**

«هیندوکوښ د اریانا ډبرین تاج دی» (دوه‌ویشتم سرود)

**د غره‌زړه:**

«له لمدو کبلو بوی د غره د زړه ځي» (دوه‌ویشتم سرود)

«د اژدر له درې پټ د غره په زړه کې» (اته‌ویشتم سرود)

«د غره زړه کې سهمګین دي رواقونه

د پردو تر شا یې پټ دي میین زړونه» (نه‌ویشتم سرود)

**د زلفو ابشار:**

«سلسال بیا سر د جانان پر زنګون کېښود

پرې شهي د تورو زلفو ابشار پرېښود» (دوه‌ویشتم سرود)

**د باد ګوتې:**

«سلسال دنګ ولاړ په پرښه افق ګوري

تورو څڼو کې یې ګوتې د باد ښورې» (درویشتم سرود)

**د اوبو پسته وږمه:**

«په حسرت دي دوه مېين ولاړ دره کې
د اوبو د بهېدو پسته وږمه کې» (څلېریشتم سرود)

**د عشق لومړنۍ اوښکه:**

«داسې روڼ لکه د عشق لومړنۍ اوښکه» (څلېریشتم سرود)

**د مست‌باد شپېلۍ:**

«د مست باد شپېلۍ ته ناڅي چینارونه» (شپږویشتم سرود)

**د چنار نڅا:**

«د مست باد شپېلۍ ته ناڅي چینارونه» (شپږویشتم سرود)
«لا د باد شوخۍ ته ناڅي چینارونه» (اته‌ویشتم سرود)

**د چنګ له تاره د لمبې ایستل:**

«دوی د چنګ د تار له رګه لمبې باسي
سوز و ساز د عشق په روح کې ننباسي» (اوه‌ویشتم سرود)

**د غره‌غېږ:**

«چې لمرځرک وهي نو ښکلیو رواقو نه
ها د غره غېږه کې جوړو دوه تاقو نه» (اته‌ویشتم سرود)

لېوال د منظومې په بېلابېلو سرودونو کې د ښکارندوی غوري په شان د طبیعت په ستاینه کې ډېر برلاسی ښکاري، داسې یې ترسیموي چې لوستونکی له ځان‌سره د پېښو ځای ته بیایي او لکه د ګرځندویانو لاربنود هرڅه مخامخ ورښیي. دا یې څو بېلګې دي:

«پسرلی، چې واورې والوتې له زمکې
په نوروز چې پېغلې ووتې نازکې

د ځلورو چینو هرخوا بهیرونه
پرې زرغون شول د غاټولو کتارونه
د چینو اوبه روانې وې په دښتو
هغه ځای کې چې په رود شولې ورګډې
نو کوچیانو ورته واړولې کډې

**په منظومه کې د عاطفي احساس انځورول:**

د منظومې په یوه برخه کې د انساني عاطفې تصویر په عجب هنرمندانه او نوې بڼه وړاندې شوی دی، هغه هم د یوې ښځینه له خولې:

یو ناڅاپه شاه‌مامې خپل غبرِ اوچت کړ
په غوسه یې د سلسال د اس کمند کې
د تږلې هوسۍ خوا ته لاس کړ پورته
تاسو څوک یئ؟ او له کومه یاست راغلي؟
په سینو کې مو ډېرې دي که زړونه
د کبلیو چیغې اورئ که کاڼه یاست؟
د هوسیو اوښکې وینئ که ړانده یاست؟

**د عاموخلکو اصطلاحات:**

**سراو، پس‌او**

د اوبو د ویش واکمن پاچا میراو دی
چې بـلـد هم په سراو هم په پس‌او دی» (دویم سرود)،

**ګاګره:**

«په تیشه وي چا تراشلې دغه ګاګره» (یولسم سرود)

**ګندنار او جارو:**

«ګندنار او جارو هرځای کې ولاړ دي»

**اوبه پټم کېدل:**

«ډنډ راوڅرخېد پتم شو روڼ ځلیـږي» (څلیریشتم سرود)

**ورابانې:**

«د ورابانو په گوگل زړونه درزیږي

د لیدو شېبه ورو ورو رانږدې کیږي» (نه‌ویشتم سرود)

د پاسنیو نادرو اصطلاحاتو د کارولو په څنگ بلې خبرې ته چې زما پام شو هغه دا ده چې په ټوله پښتو شاعرۍ کې تر خوشحال خټک وروسته، عبدالغفور لېوال لومړنی شاعر دی چې د «سپاندې» ویی یې کارولی دی، هغه هم په ډېر شاعرانه مهارت سره، تاسو وگورئ:

«یو کتار خدمتگارانو په سکروټو

ډېرې سپاندې او مانو پانې شیندلې»

د منظومې په متن کې شاعر په عمدي ډول د پښتو ژبې د اصلي اصولو له مخې داسې ویي یا لغتونه کارولي دي چې پخوا د «غلط مشهور» د قانون له مخې عام او لکه د چا خبره منل شوي وو او کلونه کلونه کارېدل. څو بېلگې یې «شاه‌مېرمن»، «شاه‌زی» او «شاه‌زوی» دي چې پخوا به ځینو قلموالو او ویناوالو د «ملکه»، «شاه‌زادگۍ» او «شاه‌زاده» په ډول ویل او لیکل. دا د منظومې له متن څخه د پاسنیو ویینو د سمې کارونې څو بېلگې دي:

د شاه‌زوی سلسال ترمخ چې یې ولاړه

د خپل سر خیرات له خدایه ځنې غواړه

مازیگر چې زابلي وزیر جرگه شو

شاه‌بامیان نه یې لاس غوښتی د شاه‌زۍ دی

یا:

شاه بامیان برسرکې ناست په ډېر پرتم دی
ورسره ترخوا یې ناسته شاه‌مېرمن ده

**د منظومې د قالب په باب:**

کله مې چې د سلسال او شاه‌مامې څوسرودونه ولوستل، ما فکر وکړ چې منظومه د مثنوي قالب په چوکاټ کې ویل شوې ده، وروسته مې ولیدل چې په ټوله منظومه کې د مثنوي قالب نه دې مراعات شوی او ګڼ‌شمېر بیتونه ازاد پای لري، د دې منظومې په متن کې داسې هم شوي دي چې کله کله شاعر د مثنوي د قالب له اصولو وځي او په څو بیتونو کې، بیتونه په خپلو کې هم‌قافیه نه وي. دا یې د څو بیتونو بېلګې دي:

«هاخوا لرې شنه ورشو کې نجونې خاندي
ساراني ګلونه وټومبي وربل کې
د وړو کبلیو غږ تر ورشو راغی
شاه‌مامه د نجونو خېل نه شوه رابېله
مخ په غره یې سترګې برندې وګنډلې»

کله مې چې لیوال صاحب په دې باب وپوښته:
«ایا تاسو دا منظومه ټوله د مثنوي په قالب کې ګڼئ؟
د متن په ډېرو ځایونو کې بیتونه سره هم‌قافیه نه دي، چې دا ولې؟»
ده داسې ځواب راکړ:
«استاده منظومه په مثنوي قالب کې نه ده او نه هم ټول بیتونه سره همقافیه دي، قافیه په ځینو بیتونو کې راغلې، خو ګڼ یې بیا ازاد پای لري البته وزن د ټولو مسرو یو دی ، خو قافیه په ټولو بیتونو کې رعایت شوې نه ده زما د درېیو روستیو منظومو ( لام او ایلینو)، ( کک و زرینه) ،

(سلطان) جوړښت هم کټ مټ همداسې دی، البته هوسی (دواړه) او (ارشاک او اوشاس) بیا په ازاد شعر کې لیکل شوې دي.»

**په منظومه کې د تاریخي ځایونو د نومونو یادونه:**

لېوال په منظومه کې د وطن د یو شمېر تاریخي ځایونو نومونه هم یاد کړي دي چې زه یې دلته یوازې د نومونو یادونه کوم:

*بابا غر، هیندوکوښ، پاروپامیزاد، بامي، کپروک، شبېر، گوربت‌غر، بامیکان، بخدي، لوی‌غر، دنگ پامیر، سورغر، ترنک، د هراویت، ناوور، پاروپامیزاد غر، هري، غور، باختر، هیلمند، اراکوزي ـ اراکوزیا، کاسغر یا کاشغر، شاه‌پولاد، اسمایي غر، د اژدر دره، هلېه، پنجهېر، سوات، هري، ساکستان، اریانا، بابل، چین، سیکارام، گندهارا، اوزبین، سوگد یا سوکد او نور...*

**د سلسال او شاه‌مامه پیام:**

انسانیت د ټول بشریت له‌پاره هغه گډ منلی مفهوم دی چې هېڅ پوله نه‌مني، که د ټول بشریت گډه عقیده هم ورته وویل شي، ډېره به ښه وي. انسانیت مینه کول دي، انسانیت داسې عمل ترسره کول دي، چې کوم شخص یا ژوندي موجود ته دې ضرر ونه‌رسېږي او څوک درنه خوابدي نه‌شي، د انسانیت بنسټ، مهرباني ده او د مهربانۍ کولو په پایله کې موږ کولای شو نورو مخلوقاتو ته ارامتیا ورپه برخه کړو.

د لېوال د دې منظومې پیام د انسانیت او عاطفې رایجول دي:

راشئ، راشئ، چې پیدا ورکه مانا کړو
درد و رنځ څخه پناه دغه دونیا کړو
راشئ راشئ، چې په ځان کې ښامار مړ کړو
چې د نفس پړانگ د وجود خاورو کې خړ کړو

چې په روح کې له څلوروسرچینونه
اته ډنډه د رڼو رڼو اصلونو

خو کله مې چې لېوال صاحب نه د منظومې د پیام پوښتنه وکړه:
«د «سلسال او شاه‌مامه» منظومې پیام څه دی؟
نو ده داسې راته ولیکل:
«د دغې منظومې درې اساسي پیغامونه دي:

۱ ـ افغانستان او بامیان د وړېښمو د لارې پر سر د یوه بډای او روښانه مدنیت کوربه و او بامیان د بودایي اصولو یو لوی پوهنتون و، دلته خلکو سوله‌ییز ژوند درلود او له نړۍ څخه ورته خلک تلل راتلل.

۲ ـ د منظومې کرکترونه د انسان د دروني نړۍ سېمبولونه دي، ښامار د حرص او ځانځانۍ، پړانګ د بې‌رحمۍ او تیري سېمبول دی، چینې حقیقت ته د رسېدلو او د دغو حقیقتونو پر بنسټ د اخلاقي اصولو منل او رعایت دی. د اوبو ډنډونه د روحي پاکۍ او روڼوالي سېمبول ده، اوبه مهمې دي هم په طبیعت کې او هم په سېمبولیکه توګه د پاکۍ او روڼوالي د نښې په توګه په روحي نړۍ کې، د نفس له ښامار او د بې‌رحمۍ له پړانګ سره جګړه د روحي اتلوالې معیار ده، چې د مینې په ځواک پر مخ ځي.

۳ ـ بامیان د ساکي ټبر اصلي ټاټوبی دی، زابلي واکمن هم ساکان و، تاریخي جغرافیا او ټبر پوهنه ښیي چې د پښتنو نیکونه (ساکان) د لویو تمدنونو وارثان او رامنځته کوونکي وو او هغسې چې د افغانانو د هویت دوښمنان یې ادعا کوي افغان ټبر یوازې د غرنیو کوچانو او څو روسته پاتې قبیلو پاتې شوني نه دي.»

دغه راز د دولسم سرود په ادامه کې د منظومې د پیام په باب داسې هم راغلي دي:

چې بامیان د فکر و پوهې کرونده شي
د انسان د ازادۍ بله ډیوه شي
چې مجبور انسان د ژوند له درد و رنځه
د خلاصون په رمز و راز دلته خبر شي
بامیکان د اریانا د زړه گوهر شي
چې له هر وطنه راشي روزنتون ته
د ساکیاموني د فکر پوهنتون ته

د «سلسال او شاه‌مامه» یادونه او د دوی د راتلونکې ژوند او ماموریت یادونه د منظومې په یوبل ځای کې داسې شوې ده:

د باران او د اوبو ښکلې واکمنې
شاه‌مېرمن ته خوب کې داسې وینا وکړه
شاه‌مامه دې مبارک شه بختورې
د څښتن ډالۍ یې وگڼه اغلې
شاه‌مامه د ژوند ژغورنې نښانه ده
د کرکیلې و پنځونې نښانه ده

سلسال د شاه‌بامیان په دربار کې خپل انساني ماموریت دا گڼي چې د ژوندون له لارې څخه به درد او رنځ لرې کوي. دا د سلسال د خولې خبره ده:

«هغه زه یم چې خوني پړانگ به ایسار کړم
درد و رنځ څخه به پاکه د ژوند لار کړم
د بندونو جوړېدو ته به ډبرې
لکه هار د شاه‌مامې له شمېره باسم

په منظومه کې د ساکیاموني ښوونو یادونه هم شوې ده، په دې باب مې چې لېوال وپوښته:
« په نولسم سرود کې مو د ساکیاموني ښوونې یادې کړې دي، مقصد مو د بودیزم اصول دي، که بل څه؟»
په ځواب کې یې داسې راته وویل:
«هو، د ساکیاموني ښوونې د بودا اصلي سپارښتنې دي چې د بودیزم اصول یې هم ګڼلای شو ، څلور حقیقتونه او اته اصلونه دي.»
د روایتونو له مخې، سلسال او شاه‌مامه په داسې ځای کې یوبل سرهویني چې له شاه‌مامې سره د همځولونجونو یوه ډلګۍ مله وي او سلسال له خپلو انډیوالانو سره د ښکار په نیت راوتلی وي. سلسال غرڅه په غشي ولي، خو د شاه‌مامې له کلکې نیوکې سره مخ کېږي او شاه‌مامه سترګې په سترګو خبرې ورسره کوي. دواړه خپلو کورونو ته ځي او همدا لومړنۍ لیدنه د دوی په زړه کې د مینې تخم کري.
کله چې د سلسال کورنۍ پوهېږي چې ده زړه بایللی دی، پلار یې د یو هوښیار وزیر په مشرۍ بامیان ته د شاه‌مامې پلار ته یوه جرګه ورلېږي، هلته د هلک لوري ته درې  شرطونه وړاندې کېږي چې دا جلۍ به هلته درکول کېږي چې سلسال دا شرطونه پوره کړي.

«مازیګر چې زابلي وزیر جرګه شو
شاه‌بامیان نه یې لاس غوښتی د شاهزۍ دی
ځوان سلسال ته په جرګه وزیر راغلی
شاه بامیان  ته مرکه وزیر راغلی
شاه‌مامه غواړي میراو نه و سلسال ته
شاه‌بامیان په حیرت تللی دغه حال ته...»

د شاه‌مامې پلار هم د خپلې لور د ژوند نوي ملګري مخ‌کې یوشمېر شرطونه ږدي او وایي چې شاه‌مامه هغه څوک ودولی شي چې دا شرطونه پوره کړي او شاعر په هنرمندانه ډول یاد شرطونه داسې د کلماتو په تار کې پېیلي دي:

«که هرچا شاه‌مامه غوښته نو اول به
له درې ګونو پړاوونو نه تیرېږي
ژوند به ژغوري له دردونو او رنځونو
د بدیو او تیارو له ګوزارونو

ترپایه

د سلسال له لوري د شاه‌مامې د پلار د شرطونو تر پوره کولو وروسته، د سلسال او شاه‌مامې د وصلت او واده دروېږه پیل شوه او لېوال په عجیب شاعرانه مهارت سره دا صحنې داسې انځور کړې دي:

«شاه‌بامیان به سبا ولېږي استازی
زابل‌شاه ته به وروړي یو داسې زیری
چې سلسال او شاه‌مامه ببرته ستانه شول
په لیدو یې زموږ سترګې شوې روښانه
شاه‌مامه چې ښکلې ناوې د سلسال شي»

د سلسال او شاه‌مامې د واده په مراسمو کې د ساکیاموني (بودا) په موجودیت کې چې له ختیځ نه د ویښتیا او روښانتیا د لارښوونو له‌پاره راغلی و؛ خلکو هلته دوه تاقونه جوړ کړل چې یو د سلسال له‌پاره و او بل یې د شاه‌مامې له‌پاره. د «سلسال او شاه‌مامه» په شپږویشتم سرود کې دا جریان لېوال په خورا شاعرانه مهارت سره انځور کړی دی، چې یوه برخه یې دلته رااخلم:

«د بامیان د میراو لویه مېلمستیا وه
د ورېښمو په لار جوړه تماشا وه

د بامیان او زابل خلک وو راوتي
دا واده د هر ساکي د زړه ارمان و

روایت داسې دی چې په پای کې سلسال او شاه‌مامه د غره په تیـږو کې تیـږې شول. شاعر دا صحنه په ځانګړي هنري مهارت سره داسې انځور کړې ده:

چې روستی پردې یې لرې کړې همزولو
حیرانتیا شوه را خوره په مخ د ټولو
لویه خدایه! دا څه وینو په رواق کې
نه سلسال نه شاه‌مامه شته په اتاق کې
هسکو دنګو رواقونو کې ولاړ دي
دوه څېرې لکه ډبرو کې توږلې

په تیـږو باندې د سلسال او شاه‌مامې بدلېدل یو افسانوي روایت دی. دا د «نیروانا» حالت ته رسېدل دي، دا داسې یوحالت دی چې انسان له ټولو نفسي‌خواهشاتو مبرا شوی وي. د دې دوو تنو په ډبرو بدلیدلو ته خپله شاعر عبدالغفور لېوال درې دلیله په شفاهي خبرو کې ما (آصف بهاند) ته داسې وړاندې کړل:«
۱ ـ په خلکو کې دا افسانه شته چې کله سلسال او شاه‌مامه د جامو د بدلولو له‌پاره د پردو شاته ولاړل، بېرته راونه‌وتل، کله چې خلک ورغلل وې‌لیدل چې دوی په تیـږو بدل شوي دي،
۲ ـ سلسال او شاه‌مامه د نیروانا حالت ته رسېدلي وو، ځکه په تیږو بدل شول. «نیروانا د بودیزم یوه بنسټي او روستۍ موخه ده. دا د انسان د روح د بشپړې آزادۍ «خلاصون/ رهایي» او د کړاو د پای حالت ته وايي.
نیروانا هغه حالت دی چې په‌کې انسان له دوکهه (درد و رنځ، ناارامۍ او ناخوښۍ) څخه وژغورل شي، او د سمسارا (د ژوند و مړینې او بیا

زیرېدو په څرخ کې له بیا بیا راتللو) څخه بهر وځي. هغه څوک چې نیروانا ته رسېږي، نور د بیا زیرېدو او دونیایي کړاو سره نه‌مخ کیږي.
له نفسي غوښتنو څخه خلاصون: په نیروانا کې ټولې غوښتنې، له دونیا سره تړاو، ناپوهي او د "زه" ځانځاني له منځه ځي. دا یو داسې حالت دی چې په‌کې انسان بشپړه رواني، روحاني او دروني سوله او رهایي ترلاسه کوي.
نیروانا د جنت یا بل کوم فزیکي ځای په شان نه دی، بلکې دا یو ذهني او روحاني حالت دی. د مطلقې پوهې، رواني سولې، او روښانتیا حالت.
د بودیزم د ښوونو پربنسټ، نیروانا د ژور فکر، مراقبې (مدیټېشن)، اخلاقو، د څلورو حقیقتونو د پېژندنې او اتو اصلونو ته د ژمنتیا له لارې ترلاسه کېدای شي. دا یوه ژوره پوهه او درک غواړي چې انسان د څلورو سپېڅلو حقیقتونو مفهوم وپېژني.» (سلسال او شاه‌مامه منظومې په وروستۍ برخه کې د څرګندونو دیرشمه شمېره)
۳ د بامیان په بودایي پوهنتون کې روزل کېدل. د بامیان بوتانو په شاوخوا کې سوري دي، هرسوری یو ټولګی دی چې د دې پوهنتون شاګردان به په‌کې روزل کېدل. دا یو سمبولیک تمثیل دی چې څنګه یوڅوک د نیروانا حالت ته رسېږي.»
د لېوال د منظومو په باب چې ما پخوا څه لیکلي دي، د لېوال د ټولو منظومو او شعري تجربو تر لوستلو وروسته مې لیکلي دي؛ زه کولای شم ووایم چې: عبدالغفور لیوال په اوسني پښتو ادب کې د مبتکرو شاعرانو په ډله کې د نوښت ښه استازولي په بریالي ډول کړې ده او هره منظومه یې د دې ادعا جلا مثالونه کېدای شي.
لېوال په خپلو منظومو کې هڅه کړې ده چې د خپل هویت، تاریخي اقتدار او ملي ګټو د ساتنې له‌پاره، له خپلو اساطیرو او تاریخي ارزښتونو

څخه؛ د خپل وطن قهرمانان راواخلي او خپلو مخاطبينو، په تېره نوي نسل ته يې ورويپېژني او په دې ډول په دوی کې ملي روحيه رامنځته کړي، وې‌روزي او پياوړې يې کړي. ښې بېلگې يې «کک او زرينه»، «لومړی او دويمه هوسی» کېدای شي.
ليوال په ټولو منظمو کې عجيبه تصوير جوړونه کړې ده. ما پخوا د لېوال د شعري تجربو په باب ليکلي وو:
مثلاً په «لام او ايلينو» منظومه کې لام لگيا وي د يوه سنگتراش هنرمن په ډول ساعتونه ـ ساعتونه د غرونو په تيـږو کې د «ايلينو» څېره لټوي، تيـږې توږي او په خپل هنر سره له عادي تيـږې نه خپله معشوقه يعنې «الينو» جوړوي، خو لېوال بيا په شپو ـ شپو او ورځو ـ ورځو لگيا دی د «لام» د مينې او هنر انځور د کاغذ يا کمپيوټر پر صفحه باندې د خپلو لغاتو د لښکر په زور او شعري تجربو په رڼا کې انځوروي. په «پاچا» منظومه کې هماغسې لېوال لگيا وي د «صاحبزاده» او «پرتمينې» د مينې افسانه د افغاني ټولنې د دودونو په لړو او تيارو کې لټوي، د خپل شعري هنر په زور د ټولنې دوديزې لړې او گردونه ور نه لرې کوي او د شعر د هنر په زور، د هغوي د مينې يوه ښکلې او روښانه تابلو خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي. دغسې په دويمه هوسی کې.
او دا دی اوس هماغسې له «سلسال او شاه‌مامه» سره يې د خپل شعر جنډه هسکه نيولې ده او برياليي نوي قدمونه يې اخيستي دي.

**پوهندوی آصف بهاند**

# سلسال او شاه‌مامه

**لومړی سرود**

د بابا [1] له هسکې څوکې وږمه راشي

توپانونه هیندوکوښ کې لا شغیږي

بیا د پاروپامیزاد [2] په سردرو کې

د بامي [3] ګلونو وږم په څپو ده

د کپروک [4] له چینو ډک لیښتي بهیږي

څنګ ته ډاګ یې د ورکیو شنه ورشو ده

هلته دلته پرې د ژرندو څرخ تاویږي

د اوبو شرشرې خوږ ته ورغورځیږي

هسک بامیان درې درې د چینارونو

ترې راتاوه غاړه‌کی د دنګو غرونو

له شېبره د ګوربت غره تر لمنو

د وریښمو کاروانونه په مزلونو

بامیکان [5] درې درې دی پرښه پرښه

ډبرین یې دیوالونه کرښه کرښه

کلکې ګاګرې یې اسمان سره جنګیږي

د ډبرو د ولاړو دیوالونو

په اوچتو کنگرو یې باد څرخیږي

ځوان گوربت له خپلې ځالې راالوتی

د وادي په شنه اسمان کې راتاویږي

پسرلی دی، دامانې زمردینې

د چینو اوبه بهیږي تکې سپینې

دلته هلته د غاټول په زړگي داغ دی

پیغلې مستې راوتلې دي مهینې

شنه گیبې، سره کمیسونه تورې زلفې

د بخدي[٦] د بیرغو په شان رنگینې

په سندرو، په ټپو په خندا گانو

زړونه وړي په مستو مستو اداگانو

په دې پیغلو کې یوه تر ټولو ښکلې

د ښایست د انځورگر په هنر وللې

لکه دا چې وي د ټولو نجونومیره

ته وا سروَ ده راغلې له کشمیره

د کابل د منو رنگ غوندې خوشرویه

د لوی‌غر[۷] د سنځل‌گل غونډې خوشبویه
غرني گلان یې ایښي په اوربل کې
د بامي غونچه نیولې په منگول کې
شاه‌مامه[۸] د بامیکان د پاچا لور ده
د اوبو د الهې[۹] ژوندی حضور ده
شاه‌مامه د لمر د وړانگو غونډې سپینه
د سوریا[۱۰] په ترانو یې ده پرېولې
په دې پېغلو کې همدا تر ټولو ښکلې

## دویم سرود

انایتا[*۱۱] چې الماسي نیزه ګوزار کړي

پړک د تالندې برېښنا شي او باران شي

په درو کې سیلاوونه راروان شي

هیندوکوښ کې په شغا چې بیا توپان شي

د چینو رڼې اوبه خړې په نېز شي

په یو شړک کې له بامیان څخه سیند تېر شي

د کپروک رڼې چینې شي په کې ورکې

خړې کیني په ورشو لاندې کړي زمکې

د باران د ملکې چې زړګی تش شي

تورې ورېځې د اسمان لمنه پرېږدي

د سوریا رڼه خندا غوندې سپین لمر شي

---

[*] انایتا = اناهیتا.

اناهیتا د پښتو په عامه محاوره کې په درېیو څپو (انایتا) تلفظ کیږي، چې خج یې پر درېیمه څپه ده، په دغه عامیانه تلفظ کې ( هـ) توری بشپړ نه تلفظ کیږي. که څه هم له اره څلور څپې ده اوخج یې هم پرڅلرمه څپه راځي، خو موږ یې په پښتو کې د عامې محاورې تلفظ رااخیستی. د نورو معلوماتو لپاره د څرګندونو نهمه او یوولسمه شمېرې وګورئ.

د کېږوک چینې رڼې رڼې راووځي

د بامیان خلک راټول بیا په اشر شي

د اوبو د ویش واکمن پاچا میراو[۱۲] دی

چې بلد هم په سراو هم په پس‌او دی

د بامیان ساکي ټبرپه دې گروهمن دی

چې بامیان انایتا ته ارزښمن دی

د رڼو چینو رودونه په‌کې ډېر دي

لوی ډنډونه یې په غرو کې ترشمار تېر دي

انایتا ورته ټاکلی دا پړاو دی

چې د خلکو اوس واکمن پاچا میراو دی

کومه ژرنده؟ کومه زمکه؟ وار د چا دی؟

د اوبو د ویش ښتن د وخت پاچا دی

که غواگانې که رمې دي که پټي دي

برکت د دې چینو او د باران دی

د اوبو د ملکې له برکته

شین زرغون په چینارونو بامیکان دی

د ویالو او د لښتیو، د رودونو

**سلسال او شاه‌مامه/ ٦**

د اوبو په ویش بلد د اوبو خان دی

د میراو د عدالت له برکته

په رمو او دانو دا وطن ودان دی

شاه‌مامه په دې کهول کې شهزادګۍ ده

د بامیان د سردرو مسته هوسۍ ده

د مالت نجونې یې ټولې دي خورلڼې

د رڼو ستورو د خېل سپینه سپوږمۍ ده

بیا سپرلی دی او د نجونو خېل وتلی

دامانو کې د ګلونو په سیل ګرځي

سږکال ژمی واورې ډېرې وې په غرونو

ښه په ډېرو اوبو موړ اوړی به راشي

پسرلی ډاګونه ښه په وښو پټ دي

د هوسیو او ګوزنو ګلې ګرځي

له هرځایه راټول شوي دي ځوانان بیا

د هوسیو په ښکار وتي دي ښکاریان بیا

په ښکاریانو کې یو ځوان ښکاري سلسال[۱۳] دی

د سرکښه اس په شان یې مټ او یال دی

غنمرنگه، کنجک برېت او تورې څڼې

پلن ټټر يې د پينځو سرتېرو ډال دی

نېغ کتل يې د ډېرو زړونه چوي

او غرور يې د مينو زړو وبال دی

لوی کهول يې زابلي دی د ساکانو[۱۴]

سکه نښه د زابل د پاچايانو

زابل‌شاه تورمان[۱۵] يې پلار دی په زابل کې

واک يې بر دی په غزني او په کابل کې

څه چالاکه شنه شېله کې په اس زغلي

پورته پرښو ته ترې ښکلې هوسۍ ترپلي

چېرته لرې د وړو کبليو غبړ دی

باز په لوړه څوکه گرداگرد تاويږي

د هوسيو او گوزنو له دانگلو

واړه لوی کاڼي مخ ښکته رارغړيږي

د هوسيو د کبليو بغ بغا ده

د ښکاريانو د هاهاوو پرې چغا ده

ځوان سلسال يو غشی وټومبه ليندۍ کې

**سلسال او شاه‌مامه/ ۸**

پښې یې ټینګې کړې د اس په رکابو کې

شغ شو غشی په نخښا د باد څپو کې

هاخوا لرې شنه ورشو کې نجونې خاندي

ساراني ګلونه وټومبي وربل کې

د وړو کبلیو غبږ تر ورشو راغی

شاه‌مامه د نجونو خېل نه شوه رابېله

مخ په غره یې سترګې بړندې وګنډلې

د کبلیو غبږ یې زړه کې انګازه شوه

د ښکاریانو های و هوی ته په غوسه شوه

په وړو وړو ګامو شوه ور روانه

په خندا او خوشالیو یې خورلنې

لکه زانه شي رابېله له خپل خېله

مخ په غره یې کړل چټک واړه ګامونه

اسماني حریر لمن یې باد ته رپي

نورې نجونې ورپسې شوې رارواني

خپلې میرې پسې لیکه شولې زانې

**درېیم سرود**

مخ په غره ده شاه‌مامه تُنده روانه

د همزولو ډله سوې ساه پسې ده

په هاها دي ځوان ښکاریان د غره لمن کې

خړه دوړه په اسونو پسې خېژي

ترهېدلي کبلي تښتي مخ په پرښو

دلته هلته وړې غټې تيرې رغړي

ځوان سلسال ده غرنۍ هوسۍ ښکار کړې

په کمند يې ده په اس پورې تړلې

را روان دی د ورشو په خوا مخ ښکته

شاه‌مامه او نجونې مخامخ وردرومي

او ښکاریانو ته له لرې شنه ورشو کې

سرو غاټولو او رېديو غوندې ښکاري

پېغلې ګردې په ګېبي ګېبي جامو کې

د رنګه رنګه غوټيو غوندې ښکاري

د اسونو شيشنهار دی راروان دي

او سپاره يې زابلي زلمي ښکاريان دي

## سلسال او شاه‌مامه/ ۱۰

سلسال مخکې پر یو برگ اس یې خرام دی
ته وا دنگ پامیر روان د دونیا بام دی
له حیا نه زلمو لاره بدلوله
خو چې دنگه شاه‌مامه یې مخ ته راغله
ښنمېدلې لکه تاو چې شي شاهینه
غاړه هسکه، سترگې برندې تکه سپینه
سلسال پوه شو، چې د نجونو میره دا ده
او ښکاریانو ته څه وایي دا مهینه
ورویې اس کړ او قیضه یې ونیوله
د زلمو سپرو پښه یې ونیوله
شاه‌مامې وې په هوسۍ سترگې گنډلې
تورې سترگې یې غوسې نه تاوېدلې
چې اسونو پښې پر زمکه باندې تم کړې
شیشنهار د روستي اس هم په کرار شو
یو ناڅاپه شاه‌مامې خپل غبر اوچت کړ
په غوسه یې د سلسال د اس کمند کې
د تړلې هوسۍ خوا ته لاس کړ پورته

تاسو څوک یئ؟ او له کومه یاست راغلي؟
په سینو کې مو ډبرې دي که زړونه
د کبلیو چیغې اورئ که کاڼه یاست؟
د هوسیو اوښکې وینئ که ړانده یاست؟
دا هوسۍ چې مو په غشي ټپي کړې
د بچیو له بغارو یې خبر یاست؟
مور ئې لا هلته په ورشو کې اورېدلې
مگر تاسو یې ترپکې نه لیدلې
د وړو وړو بچو مور مو نیولې
نامراده مو ده بند په بند تړلې
تاسو میندې ماشومان لرئ په کور کې؟
زړه مو نه خوږېد د دوی په شورماشور کې؟
یوه ځوان خپل اس رامخکې کړ څو گامه
مخامخ د پیغلو خواته رانږدې شو:
چې اې پیغلې کلانکارې دا څه وایې؟
د شاهزوی سلسال ترمخ چې یې ولاړه
د خپل سر خیرات له خدایه ځنې غواړه

د زابل د ستر واکمن دی نازولی

و بامیان ته دی په ښکار پسې راغلی

خو سلسال په غوسه خپل ملگری چوپ کړ

په خوږه موسکا یې مخ واړاوه بېرته

دی د پېغلې د ښایست کمند کې گیر و

لگېدلی د تېرو بڼو په تیر و

و په ښکار پسې راغلی، خپله ښکار شو

د یو چا په تورو زلفو گرفتار شو

واه دا څه حسن، دا څه غرور دی خدایه

څه خوږه غوسه چې غر باسي له ځایه

شاه‌مامه ده لا ولاړه هسکه دنگه

لکه وړانگه راخوریږي ړنگه بنگه

سیله‌ولې ده ژوره ساه راکاږي

په سینه یې د غوسې څپې څپې دي

له گریوانه یې وږمې وږمې خورې دي

سلسال ورو له اس راکوز شو ورته گوري

په گوگل کې یې زړگی په درزا ښوري

ناآشنا غونډې احساس او ولولې دي
د نجلۍ سترګو کې بلې لا لمبې دي
ها مغرور شهزاده هغه پهلوان هم
چې يې تورې څخه رېږدي تور ديوان هم
هاچې باد غونډې تر هسکو څوکو زغلي
اوس اسير غونډې ولاړ دی هک حيران هم
تر کنجکو برېتو لاندې موسک ولاړ دی
لکه دنګ هيندوکوښ هسې هسک ولاړ دی
د ځېرو سترګو تاثير يې دومره ډېر دی
چې د پېغلې زړه نه پټ غونډې چارپېر دی
ورو يې وويل: اداب، اداب، اداب
سل اداب  اې د ښايست عاليجناب!
ستا په غبږ کې مې اوس واورېدل غبږونه
ستا له قهره مې شول خلاص سترګې غوږونه
شور ايله راغی د غره له غرځنو نه
شرنګ مې واورېد له پايزيب او له ګونګرو نه
شاه‌مامې خمارې سترګې تُنده تُندې

**سلسال او شاه‌مامه/ ۱٤**

په غوسه وغړولې نېغې نېغې

څه گوښيږې پهلوانه دا څه وايې؟

ژر تېږي هوسې راخوشې کړه له بنده

کړه يې خلاصه دنگه غاړه له کمنده

ورستنه چې د خوږو بچو په خوا شي

د غره کنډ به يې تېږونو ته دوا شي

د زابل شاهزوی په زړه غشی خوړلی

لا و پېغلې شاه‌مامې ته فکر وړی

ورو يې شونډو زمزمه کړې دا خبرې

د غرور الماس دې مات کړ ملغلرې

له خپل اسه شو راکوز په موسکو شونډو

کړه يې خلاصه د هوسۍ غاړه له بنده

په تېږي وجود ستومانه له کمنده

تورو سترگو کې يې ترهه په څپو وه

د کبليو رمه هلته په نارو وه

دردېدلې شوه په منډه د غره خواته

نگوښېدلې يې راوکتلې شا ته

ښايي نه يې و باور چې ده ازاده
يا له پېغلې شاه‌مامې څخه وه ښاده
د زخمي پښې په درد نه پوهېدله
د کبليو د غړونو په لور تلله
د زلمو ښکاريانو ډله وه خاموشه
د خپل مشر ماتېدو ته هک حيران ول
ټول عاجز د دغې پېښې له بيان ول
شاه‌مامې چې هوسۍ وليده په لاره
د ښايسته سترگو غوسه يې شوه کراره
په سلسال يې سترگې خښې کړې له سره
قد قامت يې کړلو تېر له خپل نظره
د غوسې او حيرانتيا او خوښۍ نښې
شولې گډې په څپو کې يې له سترگو
د برېښنا غوندې موسکا وبرېښولې
چې يې سترگې په سلسال کې وگنډلې
ورو يې څه تر شونډو لاندې زمزمه کړل
بيا يې مخ د نجونو ډلې ته ورواړاو

**سلسال او شاه‌مامه/ ١٦**

د همزولو سترګې برندې وې ختلې

د بامیان د شاهزۍ قهر ته وې غلې

سلسال زړه غټ کړ او نجونو ته يې وويل

دا اغلې خو ریښتیا ډېره غوسه ده

پېژندلو ته يې زما هم تلوسه ده

دغه ښکلې زړه وره، زوروره

د کوم کور ده او په کوم نامه یادیږي

له غوسې يې د زمریو زړونه ریږدي

شاه‌مامې مخ بېرته واړاوه سلسال ته

د ټتر د ګونګرو ګانو يې شرنګا شوه

برندو سترګو کې يې پړکنده برېښنا شوه

ویل يې زه یم شاه‌مامه د پاچا لور یم

د اوبو او چینو ستره ټولواکمنه

انایتا مې ملاتړلې ساتندویه

د بامیان هره چینه کې مې تصویر دی

پلار مې دلته د اوبو د ویش امیر دی

هرکلی وایو موږ هریوه مېلمه ته

خو د ژوند او مینې دې ښکلې وادۍ کې
د هر ژوي ژوند ته ډېر درناوی کیږي
دلته وینه بهول لویه ګناه ده
د بامیان د خلکو شوې دا سلا ده
دلته ګرځي د هوسیو او ګوزنو
رمې تل په دامنو، غرونو، رغو کې
له دې ځایه بیا د هیند تر ځنګلونو
مینه و ژوند ځي د وریښمو قافلو کې
دلته کور، کلي او غره کې ژوند روان دی
په امان دی که حیوان دی که انسان دی
او له دې سره یې مخه واړوله
د همزولو د ټولۍ منځ ته ورتلله
سلسال غبږ وکړ چې اې د بامیان لورې
ودې نه ویل سزا د هغو څه ده
چې د روغو بنیادمو زړونه ولي
په تېرو تېرو بڼو د ښکلو سترګو
چې په ښکار پسې راغلي خپله ښکار شي

وایه څوک به نو درمل د دې بیمار شي

ما خو پرېښوده هوسۍ له خپل کمنده

خو زړګی مې ستا د زلفو په کمند شو

اوس به څوک ما رغوي د عشق له ټپه

له هربند څخه ازاد اوس ستا په بند شو

دا خبرې شاه‌مامې ته وې یوازې

نه همزولو نه ښکاریانو اورېدلې

شاه‌مامه شوه تکه سره له شرمه موسکه

هاخوا نجونې ورته ورو ورو موسېدلې

بس یوځل یې بیا سلسال ته نظر وکړ

همدې یو ځلې کتو یې اثر وکړ

په خندا یې یوه شوخه ادا وکړه

تور وربل یې په هوا کې نڅا وکړه

نجلۍ ولاړه او سلسال یې په ځای پرېښود

د ښکاري شاهزوی په زړه یې یو داغ کېښود

د همزولو نجونو ډله شوه روانه

د سمسورې ورشو منځ کې خرامانه

د زلمو سپرو شوې دوړې د اسونو
وربسې په خندا وکتلې نجونو
زړه د پېغلې شاه‌مامې هغسې نه و
اوس يې زړه کې راټول شوي څه خواږه وو
په ورو ورو د چا په غږ د عشق خبرې
د سلسال د تورو سترگو نېغ کاته وو
شنه ورشو کې رنگارنگ نجونې روانې
د غونډۍ ترڅنگ په لار کتار اسونه
ورستنه ټپي هوسۍ خپلو بچو ته
يوه ديدن باندې خواږه دي لا دوه زړونه
چينارونو کې مرغۍ سندرې وايي
ځوان شاهين د غره په هسک وهي وزرونه

## څلورم سرود

د زابل کلا ده لوړه برجوره

د سورغر[۱۶] ډبرې ښکارې سره لالونه

مازیګر دی او د لمر وړانګې زرینې

د پاچا ماڼۍ کې سرې پردې وریښمینې

سرکال ډېر وریښم راغلي دي له چینه

سرکال ډېر بادام دي تللي له زابله

مست ترنک[۱۷] غاړې ترغاړې لا بهیږي

د هراویتي[۱۸] څپې بیا اوړي په مورګو

سرکال ډېرې رمې پنډې په غزني کې

سرکال شین لاژوردین ډنډ د ناوور[۱۹] دی

لکه شنې پردې ماڼۍ د زابلشاه کې

سرې غالۍ یې د سورغر د پړک په شانې

څراغونه یې ماښام کې لکه ستوري

په ماڼۍ کې هلته دلته ښوري سیوري

سلسال سر د خپلې مور په زنګون ایښی

شاه‌مېرمن د زوی د زړه په راز پوهیږي

باميکان نه چې راغلی څه بل شان دی
د زړګي په خلوت تللی، په خپل ځان دی
نه يې هغه پخوانۍ شوخه مستي شته
نه هغسې له همزولو سره ګرځي
د نيزې لوبې ته لږ وخي ډګر ته
ډېر له ځان سره لګيا وي په خبرو
کله موسک شي، کله نوم د کوم چا ياد کړي
يا سپوږمۍ ته يا سلام چا ته په باد کړي
مور پوهيږي، چې سلسال دی زړه بايللی
کومې ښکلې ښاپيرۍ دی ترې لوټلی
شاه‌مېرمن ورته حيرانه فکر وړې
زوی سفر د باميکان دی بدل کړی
نن ماښام چې يې د زوی سر په زنګون دی
د زابل د شاه مانۍ ده او سکون دی
د مور ګوتې د زوی څڼو کې لار باسي
او له زړه نه يې د پټ راز مهار باسي
زويه څه دي درپېښ شوي داسې نوي؟

چې ځان دلته زړه دې بل ځای کې درزېږي
سلسال وخاندي د مور لاسونه ښکل کړي
له کړکۍ بهر اسمان ته اشاره کا:
مورې! هاغه سپینه ښکلې سپوږمۍ گورې؟
او شاو خوا یې درته ښکاري راڼه ستورې؟
زړه مې دومره لرې بند دی د غرو شاته
د سورغر او د بابا د څوکو شاته
دا سپوږمۍ هلته رڼو چینو کې ښکاري
او د ستورو یوه پنډه رمه څري
لکه شین بخمل کمیس کې چې پاولي وي
زړه مې داسې ځای کې بند دی گرانې مورې
چې د څو چینو پیوند دی گرانې مورې
مور د زوی په اشارو باندې پوه نه شوه
خو باور یې په دې پوخ شو چې مېین دی
ځوان زړگی یې د یو چا د خیال وطن دی
چېرته لرې د بابا تر څوکو هاخوا
یوه پېغله د سهاک[20] د کلا برج کې

شاه‌نشین کې په وریښمین بالښت تکیه ده

له چجې ها خوا د شین چینار له څوکې

ورته سپینه سپوږمۍ خاندي په اسمان کې

لا يې هغه دنګ قامت په زړه ولاړ دی

لا يې سترګې د زلمي سلسال په زړه دي

خدایه بیا یې یوځل راولې بامیان ته

چې پرې پوه شم په هغو سترګو کې څه دي؟

ولې داسې ناکراره ورپسې یم؟

ځان نه وړې څه عجیبې تلوسې یم؟

خدایه! بیا یې یوځل راوله بامیان ته

چې دا ځلې زړګی تش کړمه جانان ته

## پینځم سرود

د بامیان د رود په غاړه چینارونه

مازیگر دی، طلایي ښکاري کمرونه

دوه سینو کې تُند درزیږي مین زړونه

شاه‌مامه ده زرین کب د سلسال غېږ کې

پر ټټریې ناکرار دي انارونه

د وروستۍ مچکې خرپ ته اوبه ریږدي

نقره‌یي پایزیب نه تاو د رود موجونه

اخ چې دا شېبې همېش وای، بېلتون نه وای

شور د زړونو وای تلپاتې سکون نه وای

شاه‌مامه له کوره پټه راوتلې

له همزولو غلې غلې ده راغلې

شاه‌بامیان نه دی خبر د لور له مینې

زابلي شاهزوی زړه وړی له وریښمینې

غلي غلي دوه مین په راز و نیاز دي

څه به کیږي؟ که رسوا شي د دوی مینه

د بامیان د شاه غبرگون به لور ته څه وي؟

د زابل شاهزوی لا څومره بې‌پروا دی
د بامیان په غرو رغو کې چېرته ورک وي
مازیگر راشي د رود تر غاړې غلی
پټه پټه شاه‌مامه هم ورته راشي
یو دیدن د مینې دواړه سره وکړي
څوشېبې د زړه خواله همدلته وشي
هلته لرې د بابا تر څوکو هاخوا
د زابل شاهي مانۍ کې یو پټ شور دی
زابل‌شاه له شاه‌مېرمنې څخه پوښتي
چې سلسال په کومه تللی په سفر دی؟
موده وشوه چې له زویه بې‌خبر دی
شاه‌مېرمن وایي: د شاه عمر دې اوږد وي
زموږ زوی لکه چې زړه چېرته بایللی
ماته حال نه‌وایي هرڅومره یې پوښتم
خو ملگرو یې څه څرک رالگولی
موده مخکې و بامیان ته په ښکار تللی
د بامیان د پاچا لور هلته لیدلی

له کمنده یې هوسۍ وه ترې ژغورلې

وه غوسه، چې دا دې ولې ده ویشتلې

د سلسال ملګري وایي: له دې روسته

د هغه هرڅه بدل شول، شو یوازې

داسې ښکاري زړه یې هلته ده بایللی

د بامیان د پاچا لور پسې دی تللی

زابل‌شاه چې له دې رازه خبردار شو

اندېښمن د زوی په فکر کې ایسار شو

ژر یې خپل هوښیار وزیر وغوښت دربار ته

چې په بېړه د بامیان په خوا روان شي

د سلسال په حال احوال دې ځان خبر کا

هم جرګه دې د پاچا په لوی استان شي

زه خبر یم شاه‌بامیان هوښیار سړی دی

د بامیان په خلکو ګران د کار سړی دی

نازولې لور یې وغواړه سلسال ته

دوه میین زړونه خوشحاله کړه وصال ته

**شپږم سرود**

د سهاک کلا روښانه په ډیوو ده

د بلېندیو پړک رڼا یې په برجو ده

لوی تالار کې د سوما جامونه څرخي

رنګارنګې جامې زېب د مېلمستیا دي

څلور خواوو ته پېلوځي رڼایي کا

د ګلابو او سنځلو یې خوشبو ده

شاه بامیان برسرکې ناست په ډېر پرتم دی

ورسره ترخوا یې ناسته شاه‌مېرمن ده

شاه‌مامه ده د ورېښمېنې پردې شا ته

اسماني حریر کې نغښتې یې ښکلا ده

مېلمانه دې له زابله نن راغلي

د بامیان د شاه دربار کې دي ښاغلي

لومړی جام د انایتا په نوم شو پورته

د اوبو او د باران څښتنه ستایي

لوی وزیر د زابل‌شاه د میراو څنګ ته

ځوان سلسال یې هم تر خوا په ادب ناست دی

غوږ نیولی مېلمنو د چنګ[۲۱] سرود ته

رڼا رېږدي د خوشبو پېلوځي دود ته

څو ښایسته پېغلې سازیانې هلته ناستې

په چنګ ګوتې تېروي ضرب د تبلې دی

ګډ له ساز سره شرنګی د جام پیالې دی

د سپېڅلې سوما اور رګو کې ځغلي

بامیاني سرود د چنګ د ښې نغمې دی

چنګ‌نوازې پېغلې ښکلې خرامانې

په سوما اور لګوي ښکلې ساقیانې

مازیګر چې زابلي وزیر جرګه شو

شاه‌بامیان نه یې لاس غوښتی د شاهزۍ دی

ځوان سلسال ته په جرګه وزیر راغلی

شاه بامیان  ته مرکه وزیر راغلی

شاه‌مامه غواړي میراو نه و سلسال ته

شاه‌بامیان په حیرت تللی دغه حال ته

شاه‌مامه یوازې لور د پاچا نه ده

اسمانو کې یې تړون شوی د ژوند دی

د اوبو او د باران رڼه څښتنه

انایتا سره تړلی یې پیوند دی

حقیقت د شاه‌مامې له ټولو پټ دی

مور او پلار ته یې یوازې ورڅرګند دی

## اووم سرود

څه کم شل کاله پخوا چې تُند باران و

هرې خوا ته د اوبو یو رود روان و

پرک برېښنا وه او د تالندې غړونه

د اسمان په برق روښانه ټول بامیان و

شاه‌مېرمن د بامیکان په درد اخته وه

شاه‌بامیان هم وارخطا و هم خوشاله

دایه‌ګانې یې راغوښتې له هرځای وې

په بستر د شاه‌مېرمنې وې چاپېرې

ټول د شاه نوي ماشوم ته وو په تمه

خو دردونو شاه‌مېرمن نه پرېښووله

دایه‌ګانې وې پرېشانه مضطربې

د زېږون داسې دردونه نااشنا وو

د بامیان د مهربانې شاه‌مېرمنې

ژوند ته خیر کړې ښتنه مهربانه

شاه ژړل، دعا یې غوښته له اسمانه

شاه‌مېرمن له ډېره درده شوه بې‌سده

دایه‌گانو واویلا کړه، په ژړا شوې
د میراو په سترگو توره تیاره راغله
له سهاک مانۍ بهر لا شړک باران و
هرې خواته د اوبو یو رود روان و
په مانۍ کې وریده باران د اوښکو
سیلاوونه په هر مخ روان د اوښکو
یو ناڅاپه یو لوی گړز شو په اسمان کې
پاس له دنگه هیندوکوښه څه بریښنا شوه
د باباغره هسکه څوکه په لړزا شوه
شپه ناڅاپه تکه سپینه رڼایي شوه
د اسمان په لمن شور شو او غوغا شوه
د سهاک مانۍ کوم څه ولړزوله
یوناڅاپه شور شو ورک او کراري شوه
شیبه روسته دایه‌گانو کړلې چیغې
شاه‌بامیان په منډه ورغی کوټې ته
د خورې مېرمن وریښمینې بسترې ته
دا څه گوري، څه رڼا ده په کوټه کې

**سلسال او شاه‌مامه/ ۳۲**

ته وا لمر دی راکوز شوی توره شپه کې

دایه‌ګانې په وحشت لرې ولاړې

د کړکۍ پردې خوځېږي باد تاوېږي

په اسمان کې لا برېښنا ده برق پړکېږي

شاه‌بامیان ناڅاپه ولیده کوټه کې

د وریښمینې بسترې خواته روښانه

الماسي نیزه وه خښه په غالۍ کې

لا روښانه وه د شپې په تاریکۍ کې

شاه په وېره شو وروړاندې په ملا کړوپ شو

دا نیزه د انایتا د لاس نیزه وه

د باران او د اوبو د ټولواکمنې

چې پرې ویشتې یې د درد تور اهریمن و

نن میراو له دې اکرامه برخمن و

په وریښمین بستر د ښکلې شاه‌مېرمنې

ترڅنګ سپینه کوشنۍ سپوږمۍ پرته وه

شاه‌مامه دغې دونیا ته وه راغلې

شاه‌مېرمن هم اوس ارامه اسوده وه

د دربار خدمتگاراني وړاندې راغلې
وېرېدلې دايه‌گاني وړاندې راغلې
شاه‌مامه يې په ورېښمو کې ونغښته
چا زرينو منګوټو کې اوبه راوړې
يوه پوهه دايه راغله شاه‌مېرمن ته
له زرين جامه يې څاڅکي د سوما کړل
د ناروغې شاه مېرمن په خوله کې تويې
بيا يې راوړل د بابا د غره د پرښو
څه خواږه ګبين ګـُلقند سره په ګډه
شاه‌ميراو شو په سجده و لوى څښتن ته
چې يې ورکړه ښکلې لور د زړه وطن ته
دغه شپه يوه عجيبه غوندې شپه وه
شاه‌مېرمن د سوما څاڅکو کړه بې‌خوده
دومره پوه شوه، چې شاه‌زۍ يې ده زوولې
دايه‌ګانو په ورېښمو کې پېچلې
له سوما او له ګبين سره هوسا شوه
مساپره د خواږه خوب په بيديا شوه

یو ژور عجیبه خوب و دا یې یووړه

څه د وړانګو لیونتوب و دا یې یووړه

انایتا د خوب دونیا کې ورته راغله

له نیزې سره هوا کې ورته راغله

نوراني ښاپېرۍ ګردې ورنه تاوې

دا په تالندې برېښنا کې ورته راغله

د باران او د اوبو ښکلې واکمنې

شاه‌مېرمن ته خوب کې داسې وینا وکړه

شاه‌مامه دې مبارک شه بختورې

د څښتن ډالۍ یې وګڼه اغلې

شاه‌مامه د ژوند ژغورنې نښانه ده

د کرکېلې و پنځونې نښانه ده

دا به خلاص کړي د دې غرونو او رغونو

مېشته خلک هم د کلیو او ښارونو

په اس سپور یو پهلوان به ورسره وي

د یو ویښ انسان روان به ورسره وي

دوی به جوړ کړي د رڼو اوبو ډنډونه

کړي به خلاص له خوني پړانگ رمې پسونه

دوی به لوی ښامار په پارو پامیزاد کې

د ډبرو په زندان کې راایسار کړي

دوی به خلاص ترې لوی مزدک د ناویهار[۲۲] کړي

په هغه ورځ به یې دا نیزه په کار شي

چې پرې خوښ باگرام، هډه او نانگراهار[۲۳] شي

هغه ورځ به لویه ورځ په دا دونیا وي

دوه میین به تل یادگار د اریانا وي

دغه پېښې دغه خوب او پیغامونه

یو یو تېر د شاه‌بامیان په خیال خاطر شول

سودایي په ډک محفل کې ناست پاچا دی

دې هرڅه ته زنگېدلی په کړاو دی

**اتم سرود**

چنگ غږېږي او جامونه لا کړنگېږي

په تالار کې خوشبويي لاهم خورېږي

رڼاګانې په وريښمينو پردو پړک کا

شاه‌باميان لا په سوچونو کې زنګېږي

زابلی وزير په تمه دی ځواب ته

چې که «هو» واوري له ډېرې خوشالۍ به

زيری يوسي خپل پاچا عاليجناب ته

خو ميراو د باميان وړی دی فکرونو

د لورکۍ د زېږېدا د شپې حالونو

شاه‌مېرمن چې وو ليدلي ها خوبونه

انايتا ورته ويلي وو رازونه

يوناڅاپه شاه‌باميان پرځای ولاړ شو

د خوښيو د محفل نظم ويجاړ شو

چنگ‌نوازې پېغلې غلې په ادب شوې

هم ساقيانو د سوما جامونه تم کړل

ټول مجلس له های و هويه شو خاموشه

ته وا شور د سمندر پرېوت له جوشه

شاه‌بامیان د څو شپېو لپاره ووت

د زابل وزیر حیران شو، زړه یې وخوت

د سلسال ټټر کې زړه بیا په دربا شو

ناهیلۍ یې شوې ښکاره په روڼ جبین کې

شاه‌مامه لا سَتره ناسته په وریښمین کې

څو شپېې روسته پاچا بېرته راستون شو

په لاسو کې یې نیزه وه الماسینه

ځلېدله کله ژېړه کله سپینه

دا نیزه د ادمزادو نیزه نه وه

چا لېدلې نه په هیند وه نه له چینه

دا نیزه اناهیتا وه راویشتلې

د شاهزۍ د ژوند کیسه پورې تړلې

د زابل وزیر ولاړ شو، سلسال پاڅېد

په دربار کې مېلمانه په درناوي شول

تت څراغ د پردې شاته ځلوله

شاه‌مامه هم دې کیسې حیرانوله

شاه‌بامیان په ولولو خبرې پیل کړې
غږیې غلی لړزېده له اضطرابه
د ښتن نوم یې هم یاد کړ له کتابه
ویل: سلام دې د زابل په شاهنشاه وي
د ساکي ټبر د ټولو تپو شاه دی
د اریا هېواد یې سیوري ته پناه دی
د زابل هوښیار وزیر ته هرکلی کړم
نن څرګند به ورته راز شل کلنی کړم
شاه‌مامه چې دې دونیا ته په راتلو وه
هغه شپه انایتا اهریمن وویشت
دا نیزه یې د سهاک مانۍ کې پرېښوه
هغه شپه زما مېرمن ته خوب کې راغله
دا کیسه یې د سهاک مانۍ کې پرېښوه
چې د نوې پیدا شوې شاهزۍ ژوند دی
د اسمان په طلسمونو پورې بند دی
که هرچا شاه‌مامه غوښته نو اول به
له درې ګونو پړاوونو نه تیریږي

ژوند به ژغوري له دردونو او رنځونو

د بدیو او تیارو له گوزارونو

دې نیزې سره به غبرگ په سفر وځي

ها چې غواړي شاه‌مامه د ژوند څراغ کړي

هم به دا ساتي  له توره  اهریمنه

هم به ځان د گناهونو له تورتمه

چېرته مل به یې شي لاره کې روښان څوک

ها له لرې لمرخاته نه راروان څوک

ها چې وینې دی او د ژوند په ساز پوهیږي

رنځ و درد نه د خلاصون په راز پوهیږي

همدا وینې روښان سړی به یې لارښود شي

د بابا غره په خوړونو کې یو پړانگ دی

هم شپانه خوري هم رمې خوري د کوچیانو

د وریښمو کاروانونه ترې ویریږي

له لښکرو څخه غرونو کې ورکیږي

هم د پاروپامیزاد د غره درو کې

یو ښامار دی، چې له خولې یې اور بادیږي

کاروانونه چې په لار ځي د ورېښمو
سره اوښان له سوداګرو سره نغاړي
ځو ځو وارې کاروانونه هلته ورک شول
خلک پټې پټې کړي کیسې یو بل ته
چې یو لوی اژدها پټ دی په دې غرو کې
له هري نه بیا تر غور ان تر باختره
له هیلمند، اراکوزي بیا تر کاسغره[۲۴]
کاروانونه دا ښامار په اور لمبه کا
نشته داسې پهلوان چې یې چاره کا
بل پړاو زموږ د رودونو او اوبو دی
د کپروک چینې روانې دي بیابان ته
هیڅا جوړ نه کړل بندونه په رودونو
دغه چاره هم زما د لور په برخه
انایتا ده ورسپارلې دغه پازه
یو روښانه او یو ویښ سړی به راشي
زما د لور او پهلوان د اریانا ته
نو سلام دې وي زما و زابل‌شاه ته

او درنښت دې وي سلسال ته هم وزير ته

ما به زر ځلې واى لاس د لور درکړى

د زابل تر شاه مې بل نه‌شته ملګرى

خو زما د شاه‌مامې برخليک جدا دى

له وصلت څخه يې مخکې درې پړاوه

اته بنده، خوني پړانګ او اژدها دي

موږ په تمه چې پيدا هغه سړى شي

چې هم ويښ دى هم روښانه راروان دى

لمرخاته نه يې سفر مخ په باميان د ى

ها روښان به راپيدا اريايي ځوان کړي

دغه سوبه به هماغه پهلوان کړي

له څلور چينو[٢٥] به جوړ کړي اته بنده [٢٦]

له کپروک نه د درې تر روستي ډنډه

چې خوني پړانګ راايسار کړي په کمند کې

کړي بندي يې د بابا د غره ګړنګ کې

چې په دې نيزه ګوزار لوى اژدها کړي

شاه‌مامه به هم واده روسته تر دا کړي

**سلسال او شاه‌مامه/ ۴۲**

---

زما د لور د لاس‌نیوي اړونه[۲۷] دا دي

زما نه دي د سرلوړې انایتا دي

## نهم سرود

د پاچا په دې خبرو ټول حیران شول

د بامیان د شاه مېرمنه په ژړا ده

شاه‌مامه لا هکه پکه ده حیرانه

خدایه دا څه اورم؟ ولې داسې کیږي؟

دا ډبرې ولې زما په سر ماتیږي؟

له دې هرڅه ولې نه ومه خبره

زه په تمه وم چې زه به د سلسال شم

د جانان غېږ کې مړه به په وصال شم

په حسرت ترسترګو لاندې سلسال څاري

د خپل عشق د اسمان ستوري یو یو شماري

دا څه تریخ برخلیک زما په برخه لیک دی

چې ژوندون مې د اسمان د تندي ټیک دی

د زابل وزیر پرېشانه لا ولاړ دی

سل خبرې یې په زړه کې په غوغا دي

شاهنشاه ته به څه وایي؟ دا څه پېښ شول

دې عجیبې شان کیسې څخه ټول هېښ شول

**سلسال او شاه‌مامه/ ٤٤**

خو ناڅاپه سلسال ودرېده په ځای کې
په وچت غږ یې سلام په شاه‌بامیان کړ
لکه اس یې سینه وړاندې وویستله
توري څنې یې څراغ ته په ځلا شوې
وېل: سلام دې د بامیان د شاه په کور وي
د سهاک د کلا بزم دې په شور وي
زه په مینه مست د ګرانې شاه‌مامې یم
پهلوان د دغې سترې کارنامې یم
هغه زه یم چې به ځم د بابا غره ته
د روښان لارښود سلام و لمرخاته ته
هغه زه یم چې په پاروپامیزاد کې
د ښامار د خولې لمبې وشیندم باد کې
هغه زه یم چې خوني پړانګ به ایسار کړم
درد و رنځ څخه به پاکه د ژوند لار کړم
هغه زه یم چې نیزه د انایتا به
د ښامار له ښکره تېره بېره باسم
د بندونو جوړېدو ته به ډبرې

لکه هار د شاه‌مامې له شمېره باسم
زه به لاس د شاه‌مامې نیسم مړوند کې
د باباغره پړانګ به بند کړمه کمند کې
اریانا ته به ویاړونه زه راوړمه
سربښندمه، مګر مینه به ګټمه
زه یم، زه یم، چې واکمنې د باران ویل
انایتا چې ورته زبرپهلوان ویل
هغه ورځ رارسېدلې چې موږ دواړه
له ښاماره څرمن باسو، له پړانګ داړه
شاه‌مېرمنې ستا خوبونه به ریښتیا شي
زموږ په مینه به خوشاله انایتا شي
اریانا به تل اباده وي ښېرازه
شاه‌مامه به مې هملارې وي همرازه
دې درو کې به د ژوند سرود غږیږي
د وریښمو لار به بېرته امن کیږي
بامیان تش مه شه د چنګ له خواږه سازه
له زابله به د مست رباب نغمې وي

په درو کې به وي پېغلې هم‌اوازه

که سورغر، که هسکې څوکې د بابا دي

هیندوکوښ دې خالي نه‌وي له شهبازه

شاه‌بامیان په خوشالۍ ګام راوچت کړ

برندو سترګو کې یې ښکاري یو ډنډ اوښکې

تر سلسال یې متې تاوې کړې په مینه

پهلوان یې په روښانه تندي ښکل کړ

د وریښمینې پردې شاته هم سلګۍ شوې

شاه‌مامه له خوشالۍ نه په ژړا شوه

شاه‌مېرمن و مخ ته لپه لاس نیولي

د زابل وزیر لا وچ لرګی ولاړ دی

په فکرونواو سوچونو کې ایسار دی

د زابل په پهلوان یې افرین دی

د شاباس لمر یې ختلی په جبین دی

خو حیران چې خپل پاچا ته به څه وایي

د زابل لوی شاهنشاه ته به څه وایي

د زابل د پاچا ایکي یو سلسال دی

چې ښاغلی په جمال هم په جلال دی

د زابل د تخت غمی تر پاچا روسته

اریانا ته یې روزلی په کمال دی

## لسم سرود

شاه‌مامې له سترګو توی کړې مرغلرې

راغلې اوښکې یې پرمخ دُرِ نادرې

خدای‌زده کومو ولولو په سراخیستې

هم ویریږي، هم خوشاله ده لړزیږي

څو احساسه یې یوځای په زړه وریږي

څه به پېښ شي، څه به ووینې تروړاندې؟

دا سفر یې څه اسانه سفر نه دی

جنګ د ژوند دی، څه وړوکی خطر نه دی

اته بنده، خوني پړانګ او لوی ښامار دي

دوه مېینو ته سختۍ په دغه لار دي

خو مېړانې د سلسال ته یې چې پام شي

د بریو زیری پټ ورته الهام شي

ګران سلسال یې چې ملګری د مزله شي

د زغم وړ ورته د ژوند هریو ناکام شي

واه چې څومره مې جانان په ما مېین دی

واه چې څومره ډېره زه یمه پرې ګرانه

چې زما په پاکه مینه یې غیرت دی
داسې گران سره دوزخ ته تلل جنت دی
چې سلسال غوندې جانان مې وي ترڅنگه
څه به ویره وي د لوی ښامار له جنگه
چې دې متې د میین وي درنه تاوې
له خوني پړانگ نه به هم وباسې داړې
چې په خوږ سلسال دې روح او زړه تکیه وي
سمندر به هم د رود یوه څپه وي
لوی خطر دی، هر پړاو کې دیو په څَو دی
مرگ د لمر غوندې ولاړ په بر کنډو دی
شاه‌مامه په سلسال وویاړېده زړه کې
د ساکیانو لوی ټبر به په تا ویاړي
لمرخاته نه راروان چې دی بامیان ته
هغه ویښ روښان بشر به په تا ویاړي
زما د پلار په وړاندې هسک دې زما سر کړ
نن ښکاره دې مېړنتوب په ډېر هنر کړ
شپه پخه ده او بامیان ستورو ته گوري

د سپوږمۍ رڼا ته څانګې باد ته ښوري

د سهاک کلا کې بل دي څراغونه

په انګړ کې یې ولاړ دي ګڼ اسونه

نن عجیبه درنه شپه ده په بامیان کې

نااشنا نقره‌یي روڼ ستوری اسمان کې

په انګړ کې پنډ اسونه ناکرار دي

بزې پسونه په اغېل کې په ناتار دي

یو عجیب مرغه چغېږي چینارو کې

پخوا نه و داسې غږ په نیمو شپو کې

ګلبوټې د رود په غاړه عطر پاشي

دا شپه رود په شرهار کې زمزمه کا

پاس د غرونو ګړنګو کې هوسۍ ویښې

د ختیځ د لرې لارو ننداره کا

چینارونه د سپوږمۍ رڼا ته ریږدي

له دې سیمو ارواګانې شومې لېږدي

ښایي نیمه شپه کې لمرپښه راکېږدي

رالګېږي لمرخاته نه څه وړمه ده

په فضا کې خوره غلې شان نغمه ده

څه پېښېږي؟ دا څه گونگه گونگوسه ده

څوک ارامه دي په چا وېره خپره ده

ماشومان نن شپه رنگين خوبونهويني

د کوم چا د راتلو زيری ورته کيږي

ماشومان په خوب ويده زړه کې خوشاله

خبر نه دي څوک راځي او څه به کيږي؟

رڼايي ده راروانه لمرخاته نه

د ويښتيا د گام اواز اورېده کيږي

**یوولسم سرود**

د بامیان د وادۍ زړه کې د غره پرښه

د ډبرو د دیوال غوندې ولاړه

لکه چا وي سور مرمر دوه ځایه کړی

په تېشه وي چا تراشلې دغه ګاګره

هسک تر دنګو چینارونو دا دیوال دی

د اسمان په کنګرو یې ایښی ډال دی

د ډبرو په دیوال کې هلته دلته

مغارې دي، دالانونه لارې لارې

د قدرت لاس دي تراشلي تالارونه

کله کله په کې باد وهي کوکارې

بیګاه شپه شاه‌مامې خوب داسې لیدلی

لمرخاته نه یې یوغږ دی اورېدلی

چې روانه وي د غره په مغارو کې

سپین کمیس کې راڅرخیږي تالارو کې

په یو لوی رڼا تالار کې ناست یو څوک وي

نوراني څېره یې ښکاري په پردو کې

د یوغڼ نیلوفر گل په منځ کې ناست وي
د ربړا یوه کړۍ ورنه تاویږي
شاه‌مامې ته وایي راشئ، زه یم دلته
درد و رنځ نه را جلاشئ، زه یم دلته
شاه‌مامه له خوبه پاڅېده ناڅاپه
شپه تیاره ده، لا سپېدې چاودلې نه دي
یو روڼ ستوری په اسمان کې لاځلیږي
چینارو کې نااشنا مرغه چغیږي
ساه یې لنډه لنډه کیږي وېرېدلې
شاه‌مامه د مور کوټې ته لاړه غلې
شېبه روسته د سهاک ماڼۍ کې شور شو
څراغونه د کوټو بېرته روښان شول
دا هغه ځانگړې شپه لویه شېبه ده
نن روښانه ویښ پردېس دلته دېره ده
په ماڼۍ کې د حمام ډنډونه ډک شول
په تودو اوبو کې پاڼې د گلابو
څه د عطرو خوشبویي ده د عنبرو

د ختن د مشکو بوی ده په حوضوکې

ته وا وربم د سنځلو دی اوبو کې

د حرم خدمتګارانې په ادب دي

شاه‌مامې سره راټولې په حمام کې

د هغې سیمین بدن په مشکو مینځي

رابربنډ یې کړل ورو ورو سپین اندامونه

ته وا کوچو سره ګډ شول ګلابونه

لکه سپینې هیلۍ ګډې شي اوبو کې

ته وا شهدو ته پریوتي انارونه

خورې زلفې یې پر ګرمو اوبو بارشوې

ته وا باد ته تور وربښم وهي موجونه

هلته لرې د وحشي طبیعت په غېږ کې

پهلوان سلسال له رود څخه راووت

په ماڼۍ کې په لمبلو عادت نه دی

له پخوا یې د وطن رودونه ورونه

اوړی ژمی په روانو اوبو لامبي

سپیدې چوي د سهار ستوری ختلی

دوه مېين يې کړل سينګار خدمتګارانو
دواړه ځي د يوه پاک ديدن لپاره
د روښانه وينښ پردېس په خوا يې لاره
شاه‌باميان او شاه مېرمن ورته ولاړ دي
له زابل څخه راغلي مېلمانه هم
د ملګرو او همزولو انديښنه ده
د هرچا دغې شېبې ته تلوسه ده
شاه‌باميان سلسال ته سپاري الماسينه
ها نيزه چې هم زرينه ده هم سپينه
د ختيځ شفق کې پل د سهار ښکاري
لاژوردين ډنډ کې ښکاريږي سپين رګونه
چېرته لرې د چرګانو دي بانګونه
لا رڼا نه ده، چې خلاصه دروازه شوه
د سهاک ماڼۍ کې شور او غلغله شوه
دوه جوړه سپاره راووتل ماڼۍ نه
لکه دوه ستورې جلا شي له سپوږمۍ نه
دنګ سلسال او بله ښکلې شاه‌مامه ده

د زابل و بامیان څه ښکلې جوړه ده

د ساکي ټبر دوه غبرګ غمي روان دي

اوس په لاره د ورېښمو د کاروان دي

هغه ځای چې شاه‌مامې په خوب لیدلی

لمرخاته نه یو روښان پردېس راغلی

## دولسم سرود

د ډبرو تراشل شوی دیوال دنگ دی

لا یو ستوری د ختیز شفق ترخنگ دی

د ډبرو د تراشلي دیوال مخ ته

شاه‌مامه او سلسال واوښتل له روده

مخامخ د ډبرینې گاگرې زړه کې

مغارې نه نقره‌يي وړانگه ښکاريږي

عجیبه اسرارامیزه سباوون دی

ته وا ټول جهان لاهو په یو سکون دی

دوه جوړه سپاره ورځې د پرښې خوا ته

بامیان ویښ دی د سپرلي ښکلې هوا ته

د تالار لاره په یاد د شاه‌مامې ده

هغه خوب یې لا د زړه په سترگو نقش دی

لاس په لاس له یو دالانه بل دالان ته

مضطرب گامونه اخلي لوی استان ته

په درشل د لوی تالار کې چې ورتاو شول

یوه تته رڼایي وه، سپین غبار و

**سلسال او شاه‌مامه/ ۵۸**

څه عجیبه خوشبویي وه او سهار و

مخامخ یو نوراني انسان ولاړ و

پټې سترګې د کوم چا په انتظار و

ډوب، ارام مراقبه کې لاهو شوی

د رڼا یوې کړۍ کې رانغښتلی

ناڅرګنده شان موسکا یې په څېره کې

سرترپایه په یوه جامه کې پټ و

د جامې پلو یې پروت په کینه مټه

د وجود سیوری یې نه ښکارېده شا ته

یا ښکالو د مېلمنو ته را په خود شو

یا پوره یې شو ریاضت په دې شېبه کې

مخامخ یې یو دنګ ځوان او یوه پېغله

وو ولاړ د لوی تالار تر درشل هاخوا

موسک شو ورو یې هرکلی په اشاره کړ

ځیر نظر یې په سلسال او شاه‌مامه کړ

راځئ راشئ دواړه دلته زما خواته

چې د روح لمنه ونیسو رڼا ته

د بامیان وادي مېلمه «ساکیامونی»[۲۸] یم
لمرخاته څخه راغلی پردیسي یم
راشئ، راشئ، چې پیدا ورکه مانا کړو
درد و رنځ څخه پناه دغه دونیا کړو
راشئ راشئ، چې په ځان کې ښامار مړ کړو
چې د نفس پړانگ د وجود خاورو کې خړ کړو
چې په روح کې له څلوروسرچینونه
اته ډنډه د رڼو رڼو اصلونو
لاژوردین لکه غمي رانه بهاند شي
سمندر چې د مانا ورنه څپاند شي
راشئ راشئ، چې بامیان له نن نه روسته
یو سپېڅلی ښوونځی د روښانتیا شي
دغه گاگرې، دغه سمڅې، دالانونه
د اوهامو خوبولیو ته ویښتیا شي
راشئ راشئ او بامیان داسې وطن کړئ
چې له ټولې دونیا راشي کاروانونه
پرې انبار وي د فکرونو کتابونه

د وربښمو په لار جوړ سپېڅلی ښار کړئ
یو تم‌ځای یې د باختر په لویه لار کړئ
له باگرام[٢٩] او تاکسیلا[٣٠] څخه تر غوره
بگولان[٣١] سره ملگری نانگراهار کړئ
گنداریا نه تر هیلمند و هېراویتي
اسمایي سره تړون د ناویهار کړئ
دغه زمکه کړئ راویښه او روښانه
د ژوندون مانا پیدا په دې دیارکړئ
چې له چینه، له ماچینه خلک راشي
له گنگا او اباسینه خلک راشي
ستاسو دواړو د دیدن په تلوسه کې
جهان‌بینه او خودبینه خلک راشي
په دونیا کې اوازه د دې وادۍ شي
چې د پارو پامیزاد د غرو لمن کې
د انسان د گناهو ښامار بندي دی
د بابا د غره د څوکو په لمن کې
د بدیو پړانگ گړنگ کې زنداني دی

چې بامیان د فکر و پوهې کرونده شي
د انسان د ازادۍ بله ډیوه شي
چې مجبور انسان د ژوند له درد و رنځه
د خلاصون په رمز و راز دلته خبر شي
بامیکان د اریانا د زړه گوهر شي
چې له هر وطنه راشي روزنتون ته
د ساکیامونې د فکر پوهنتون ته
ستاسو دواړو تر نظر لاندې به دلته
د دونیا وگړي زدکړې ته رادرومي
دا وادي به د پېژاند پېلوځه روڼي
دغه تورې مغارې او دالانونه
په ډېرو کې دا لوی لوی تالارونه
دا به ټولوته د پوهې پالنځي وي
د رڼا او د ویښتیا به دا ټولگي وي
تاسو دواړه به تر ډېره ورته گورئ
نیروانا [٣٢] به مو په برخه یو سکون کړي
دردالې به یو تلپاتې پیوستون کړي

## دیارلسم سرود

دغه ورځ وه یوه لویه ورځ بامیان کې

ساکیامونې لا ولاړ و په دالان کې

د سلسال او شاه‌مامې ترمخ پراته وو

د درې‌گونو ازمونونو پړاوونه

له څلورو سرچینو اته ډنډونه

ترې بهیږي به رانه رانه رودونه

دا ډنډونه به ژور لاژوردین وي

سپینو بکرو کې به جوړ زمردین وي

چې هرڅوک راځي سبق د دې وادۍ ته

په لومړي ډنډ کې به مینځي خپلې سترگې

په بل ډنډ کې به لاسونه له ازاره

په دریم کې به نفس ټک وهي له حرصه

څلورم کې به پښې له بیا راتلو نه

په پینځم کې به ترهغو مخ ته گوري

چې په خپل عکس کې پیدا کړي پټ رازونه

له شپږمه به د زغم غوړپونه وځښې

د اووم له څاڅکي څاڅکي به راویښ شي
په اتم کې به په لویه هستۍ ګډ شي
دغه ورځ وه یوه لویه ورځ وادۍ کې
شور د ژوند و په هستۍ او په نیستۍ کې
څه کیسه وه د خوني پړانګ د منګولو
بل پړاو و د ښامار د پېژندلو
چې په پارو پامیزاد کې به وي دواړه
د ښامار په وړاندې ناست مراقبه کې
اسماني نیزه به ایښې وي ترمنځه
له ښامار به ویره نه وي دې جګړه کې
دوه میین وو او روښان ساکیاموني و
مازیګر پورې تالار کې ګونګوسي وو
مازیګر ته چې لمر سترګه پټوله
د بامیان دره شفق ته زنګېدله
شیبه راغله، چې تالار کې خاموشي شوه
په کې ړنګه نقره رنګې رڼایي شوه
له تالاره وړانګې وړانګې ذرې ولاړې

د ډبرو خونې پاتې شولې شاړې

لا ماښام نه و، چې دوه سپاره روان شول

د درې په کږو لارو کې نهان شول

چينارونو کې يو خېل مرغۍ شوې ورکې

ورځې ونغاړلې وړانگې له دې زمکې

## څوارلسم سرود

د باباغره هسکه څوکه شاه‌پولاد[۳۳] ده

پرې د واورې کربښې ښکارې کال اباد ده

پاس د غره په سر ډنډونه د اوبو دي

په ناوو کې يې سمسور دي ځنګلونه

په لمن کې يې پراخې ورشو ګانې

د رمو او د شپنو په کې غړانګې

د زلميو ياکوربان دی او لنډۍ دي

د بزو مېږو په غاړو کړنګانې دي

دوه سپاره د شاه‌پولاد په خوا وردرومي

شنو ورشو نه لکه باد چټک تيرېږي

مخامخ د غره ناوونو ته روان دي

دوه مينه شنو ځنګلونو ته روان دي

دامانو کې هاځنګلونه چې ورلاندې

شنو ورشو کې د شپنو رمې وې پنډې

يوناڅاپه خوني پړانګ ورنه راوځي

هم شپانه وژني هم مېږې هم ورغومي

له پسونو او بزو نه څرمن باسي

د ورکیو بغ بغا له چمن باسي

د کوچیانو کډې وګواښي په داړو

نه ډاریږي له کوتکو له سوباړو

مساپر د لرو لارو دلته ورک شي

کاروانونه له بارونو دلته سپک شي

له خوني پړانګه بامیان ټول په کړاو دی

د سلسال او شاه‌مامې لومړی پړاو دی

چې د دغه خوني پړانګ ژامه کړي ماته

دوه مېین روان د هسکې څوکې خوا ته

مازیګر دی، د سپرلي درېیمه میاشت ده

لمر لا تود د بابا غره باندې لګیږي

دوه اسونه د ځنګله خواته روان دي

د نری لارې ترڅنګ چینې بهیږي

لږ څه لرې د شپنو یو شپول ښکاره شو

د سلسال او شاه‌مامې نن دلته شپه ده

د سلسال ملاپورې پلنه توره زانګي

شاه‌مامې سره نیزه د انایتا ده

دواړه یو د بل تر څنګه دي خوشاله

دواړه یو د بل د عشق په هیله پایي

شپه او شپول ده د شپنو د بابا غره کې

د اسمان ستوري ځلیږي په چینه کې

د سپوږمۍ د څوارلسمې رڼایي ده

شپه سړه ده او عجیبه خاموشي ده

دوه میین په راز و نیاز سره اخته دي

دومره ډېرې دي خبرې، نه خلاصیږي

د نجلۍ په زلفو تته رڼایي ده

لکه کرښې د نقرې وي په وریښمو

د راتلونکي ژوند د هیلو کیسې وایي

موسکې سترګې یې سپوږمۍ ته لاره ښایي

خو سلسال د ځنګله زړه ته غوږ نیولی

چېرته څرک شي، د وښو بوټو په منځ کې

یا کړۍ چېرته چریږي غږ یې راشي

په ارام شرشر روانه لا چینه ده

## سلسال او شاه‌مامه/ ٦٨

کله کله باد په ونو کې راتاو شي

د ځنګله شپه، د یار خنګ عجیبه خوند دی

د دوه زړونو د درزا یو پټ پیوند دی

## پينځلسم سرود

يوه ورځ له ورځو ناڅاپه ځنګله ته

شورماشور له کوزو سيمو څخه راغی

د ورشو په لوړو څنډو کې غوغا شوه

تر غوږونو د شپنو های و هوی راغی

د ورکيو د سېرليو بغ بغا شوه

په غپا شول د رمو سپي په ورشو کې

د رمې د کړنګانيو يې کړنګا شوه

ځوان سلسال مراقبه و د ډنډ خواته

پېغلې ايښی غرنی ګل په وربل و

ډنډ کې عکس د پهلوان په لړزېدو شو

شاه‌مامې کړه الماسي نيزه راپورته

شېبه روسته دوه سپاره په نری لاره

د ورشو په لوري ووتل له واره

پهلوان او شاه‌مامه په ټراټ روان وو

مخامخ يې په پړانګ وتړله لاره

عجيب پړانګ، چې لا تر دوه زمريو غټ و

مخامخ غوسه ولاړ په یوه ګټ و

له تېرې ژامې یې وتي ول غاښونه

په ډېره یې وو خښ تېره نوکونه

غورهار یې لکه تندر د اسمان دی

سینه پلنه، سر یې غټ د پیل په شان دی

له خوني سترګو یې اور د غوسې اوري

په غضب ګوري د دوه سپړو په لوري

سلسال ورو توره له تېکې څخه باسي

شاه‌مامې د انایتا نیزه نیولې

پړانګ د لویې هیولا غوندې ولاړ دی

لا د تندر او توپان غوندې غوریږي

ساکیامونې د نجلۍ زړه ته ورلویږي

اسماني نیزه یې موټي کې ټینګیږي

د برېښنا غوندې له اسه شوه را کوزه

پړانګ د خېز په تکل نېغ د دې په لوري

یو ناڅاپه یې نیزه په لاس کې ګوري

خوني پړانګ له خښمه ګرد په ځان تاویږي

لا غوريږي خو په پړښه شا ته کيږي

شاه‌مامه د نيزې څوکه ږدي پر زمکه

يوه کرښه يې راکش د پړانګ تر مخ کړه

الماسي نيزه يې وکښله په ډاګ کې

له ډېرو يې سپرغۍ هوا ته باد کړې

سلسال اس څخه د ښکار کمند راخلاص کړ

خپلې تورې سره ګام ګام ورنږدې شو

نجلۍ بله او بيا بله کرښه باسي

پړانګ غوريږي خو ولاړ لا پرخپل ځای دی

پهلوان کمند په لاس نجلۍ يې شاته

د پړانګ سترګو ته نيولې نيزه نېغه

څو شپانه يې له ډېر لرې ننداره کا

شېبه روسته پهلوان په پړانګ يرغل کړ

سره ونغښتل په ډاګ کې لکه غرونه

نجلۍ پړانګ ته ده نيزه نېغه نيولې

د پړانګ سترګې دي نيزې ته خو لا جنګ کا

د سلسال متې يې څېرې په پنجو کړې

پهلوان کمند راوپېچه له پړانګه
ژامه، لاس او پښې یې وتړل په منډه
هلته لرې څو شپانه لا ورته ګوري
خوني پړانګ د پهلوان کمند کې ښوري
شاه‌مامې چېغه کړه: افرین سلساله!
له زخمو نه دې قربان شمه جانانه
پړانګ غوړمبیږي، خو تړلی یې بند بند دی
د سلسال تر ګونډې لاندې په کمند دی
د اتل په څنګل لیکه وینه راغله
له سینې یې هم غوټۍ غوټۍ راڅاڅي
د زخمونو له دردونو بې پروا دی
د خوني پړانګ په تړلو لا لګیا دی
لرې لرې نه شپانه په وېره وېره
رانږدې شول، ورته ودرېدل چاپېره
څو شپنو کړ راروان هغه قفس چې
سلسال خپله په څنګل کې و جوړ کړی
ها قفس چې په لرګینې ګاډۍ بار و

دوه گاومیښو راکاږه په سختو لارو

په کمند تړلی پړانګ یې په کې بند کړ

په قفس کې یې راخلاص ورنه کمند کړ

پړانګ لاهم نیزې ته ځیر و په قفس کې

غورېده لکه توپان په هر نفس کې

سلسال وویل شپنو ته چې ملګرو

د بامیان د ورشو ګانو متهورو

اوس به پړانګ د شاه پولاد تر څوکې هاخوا

له ژور ګړنګه تېر کړو په قفس کې

چې په غرو کې خپل ازاد ژوندون ته لاړ شي

دا خونکاره د طبیعت سکون ته لاړ شي

د ګړنګ لاربه په دې نیزه کړو بنده

چې بیا هیڅکله رانه شي دغې خوا ته

اسماني نیزه چې څېرې کړي کوم کاڼي

هغې کرښې څخه نه‌اوړي خونکاري

تل تر تله به پړانګان هلته بندي وي

ورشو ګانې او بامیان به ترې خوندي وي

ماسپښین و، چې سپاره دواړه روان شول
ورپسې قفس کې بند پړانګ ناکراره
دوه ګامېښو لنډوله سخته لاره
څو شپانه په منډه منډه ورپسې وو
وېرېدلي د بندي پړانګ له غوسې وو...
د بابا د هسکې څوکې په سرڅرخي
لوړ الوتي، دوه مغروره ګورېتان دي
ورشوګانو کې شپانه سندرې وايي
ګړنګونو کې بندي خوني پړانګان دي
تر هغې ورځې راروسته رمې ګرځي
په ورشو کې بې پروا سېرلکي پرځي
کړنګاني دي د ورغوميو د ورکيو
غواوې ښکل کړي سپين تندي د خوسکيو
شپانه بولي په شپېليو کې سندرې
پېغلې ستايي دوه مين په ترانو کې
د لنډيو او ټيکيو زمزمو کې
د بابا په شنو لمنو کې تيريږي

کاروانونه اوس ډاډه راروانیږي

پړانګان شته، خو بس د میندو په کیسو کې

هغه لویه ورځ یادیږي افسانو کې

## شپاړلسم سرود

غر د پاروپامیزاد بام د دونیا دی

لکه تاج په سر د ټولې اریانا دی

په دره دره یې پروت ساکي ټبر دی

له پامیر و هیندوکوښه تر سپین‌غره

غور غزني، زابل کابل نه تر کاس‌غره

اسمایي نه تر لوی‌غر او تر سورغره

هیند و چین نه راروان دي کاروانونه

د وریښمو په لار درومي ډېر کلونه

د وریښمو لار ژوندۍ په اریانا ده

«لکه خوځند زړه په تن کې د اسیا ده»

غره د پاروپامیزاد کې کله کله

یوه لویه هیولا راپیدا کیږي

کاروانیان دلته له ویرې نه رپیږي

چې به بیا چېرته ښامار راڅرګندیږي

د دې مار له خولې دوزخ د لمبو خېژي

له سرو سترګو نه یې تور لوګي لټیږي

هلته دلته کاروانونه ژوندي ورک شي

سره اوښان ورته د ژوند له باره سپک شي

کله کله تر شېبره سر راباسي

له سپېرمو نه د سکروټو غر راباسي

سېرکال اوړی داماني شني زرغوني دي

گندنار او جارو هرځای کې ولاړ دي

د اژدر[۳٤] درې ته دوه سپاره وردرومي

شاه‌مامې د انايتا نيزه نيولې

زابلی توره تر ملا د پهلوان ده

داسې وايي د باميان خلک چې اوړی

د اژدر درې ته خامخا راوځي

اورنی ښامار له پاروپاميزاده

د اژدر درې ته راشي اوبه وڅښي

ها چينه چې له کپروک څخه راغلې

ساکيامونې وه ښوولې شاه‌مامې ته

د ښامار برخه رڼه چينه دره کې

سرترپايه يې راتشه کړي شېبه کې

کال کې یوځلې ښامار راځي درې ته

د ټول کال اوبه چینې څخه ورکاږي

ښامار وژني دوزخونه په خپل ځان کې

د اژدر درې له دې رڼې چینې نه

له هغو څلور چینو نه یوه دا ده

ساکیامونی چې یې نښه وه ښوولې

دا چینه ده انایتا دلته کیندلې

د اسمان د کبرګل [۳۵] د سترګې اوښکه

د سپېڅلي نیلوفر د پاڼې پرخه

دا چینه ده انایتا ته ډېره ګرانه

د اتو لاژوردي ډنډونو مور ده

ها ډنډونه چې ساکیامونی ښوولي

چې هرڅوک تر روښانتیا او ویښتیا وړاندې

ښایي ومینځي هغلته خپلې سترګې

خو کلونه، لا لسیزې پېړۍ وشوې

چې د دې چینو اوبه چېرته ډنډ نه‌شوې

هېڅ ورګډې د بامیان په شنه بند نه‌شوې

هر کال اوړی ښامار راشي دې درې ته
د دې غره له زړه نه تولې اوبه وڅښي
د سپېڅلې چینې څاڅکی پاتې نه شي
چې د پوهې د پردیسو زړه پرې ښه شي
دوه میین سپاره اژدر چینې ته راغلل
دا یې ورځې دي چې راشي ښامار دلته
له چینې څخه پنځوس گامه ورهاخوا
د غره گاگره کې کېندلی یو دالان دی
د دالان په درشل جوړ طاق د ډبرو
له دالان څخه چینه مخامخ ښکاري
دوه میین به له دې ځایه ښامار څاري
مازیگر دی او یاران دي دواړه ستړي
یو د بل په خوږه مینه دي پیاوړي
ښکلې پېغلې خپل جانان ته زنگون ایښی
د خورو زلفو ابشار یې پرې راپرېښی
پهلوان پروت دی ساه اخلي له عطرونو
د جانان د ښکلي جسم له گلونو

د عشق غیږ کې وینې څه خواږه خوبونه

شاه‌مامه کا زمزمه خواږه بیتونه

**اولسم سرود**

نن شپه څومره سهمګینه درنه شپه ده
تروږمۍ کې د اژدر دره پرته ده
نن هغه ستورى له ورايه رون ځليږي
چې ترې جوړه د اسمان سپينه نيزه ده
هغه نښې چې ساکيامونې ښوولې
هغه ټولې راڅرګندې په دې شپه دي
پهلوان سلسال د غره دالان کې ناست دی
مخامخ يې سترګې ځير دي چينه څاري
او نجلۍ سره نيزه د اسمان ښکاري
له دالانه بهر بوټي باد کاږه کړل
عجيبه شان باد راوالوته دره کې
يو دروند غږ د غره د پرښو له شا راغی
د دالان له چته خاورې شوې راتويې
شنهار د يوه دروند جسم تر غوږ شو
سلسال نېغ د دالانه پر درشل هسک شو
شاه‌مامه يې هم ترشا ودرېدله

تیاره ډېره ده ژوره، سپوږمۍ نه‌شته
داسې څه چې کړي رڼا تروږمۍ نه‌شته
سلسال پوه شو چې همدا هغه شپه ده
د شاهزۍ سپینو منګولو کې نیزه ده
پهلوان لا هسک ولاړ دی، زمکه ریږدي
مخامخ د غره له ناوه ښکالو خیژي
یو ناڅاپه د ښامار د غریو غږ شو
په دره کې وېروونکی شانې زوږ شو
د غره ناو نه د لوی مار سر رابهر شو
راښکاره یې له سرو سترګو نه شرر شو
د چینې په تپاس وځښېد پر زمکه
لا تنه یې وه د غره په خوړ کې ورکه
د دالان تر خوا ولاړ اسونو خېز کړ
شیشنهار یې شو له قهره یا له وهمه
چې ناڅاپه د ښامار ورته راپام شو
عجیبه وه چې انسان دلته راغلی
د ښامار او د چینې راز یې موندلی

د سلسال په لاس کې پلنه توره ټینگه
پړک رڼا یې اسماني نیزه تر شا کا
د ښامار دوې سترگې سرې د اور بټۍ دي
په سپږمو کې یې د سرو لمبو دوهۍ دي
سر یې تاو کړ د دالان خواته په کرکه
شاه‌مامې په نیزه څېرې کړله زمکه
د ښامار او د سلسال ترمنځ یې کرښه
د الماسو په نیزه چټکه وکښه
د ښامار نیزې ته پام شو له ډېر تاوه
سر یې ان تر نیمایي اسمانه لوړ کړ
یو ناڅاپه په افق کې سره رڼا شوه
لکه شنه اسمان کې کړسنده برېښنا شوه
غورهار شو اور د مار له خولې نه ووت
د نیزې څوکې پر زمکه سپرغۍ باد کړې
د ښامار داړې یې پورته په فریاد کړې
بیا یې بله کرښه وویسته لږ وړاندې
سلسال توره په لاس ورغی ترې لاندې

ښامار سر د پهلوان په خوا راکوږ کړ

خوله یې خلاصه کړه چې ټېر یې کړي تر ستوني

خو شهۍ په منډه شاه ته ورگوزار کړه

پهلوان نیزه منگولو کې ایسار کړه

زابلی سلسال نیزو سره بلد دی

داسې بل نیزه‌باز ټول وطن کې نه‌شته

خو نن شپه د نیزې بله شان جگړه ده

ساکیاموني چې ویل هغه کیسه ده

د ښامار تندي کې سپین صدفي ښکر دی

د نیزې موخې ته دا ځای برابر دی

نه په سترگه، نه په خوله او نه په غاړه

د ښامار صدفي ښکر ورځخه غواړه

ساکیاموني ورته کړې سپارښتنه

پهلوان سره کینې لاس کې توره پلنه

په ښي لاس یې ده نیزه نېغه نیولې

شاه‌مامه یې شاته تش لاس درېدلې

خدایه مه یې کړې شهۍ ته د ښامار پام

سلسال لا پسې چټک شو د مار سر ته
برابر يې شو د خولې د اور شرر ته
شاه‌مامې چيغه کړه: پام کوه سلساله
د ښامار سترګې ورواوښتې بې‌خياله
چې شهی ولاړه تش لاس په ميدان ده
تر هغو يې چې سر تاو کړ هغې خوا ته
سلسال ووت د لمبو د درمند شا ته
مار چې خوله نږدې کوله شاه‌مامې ته
پهلوان يې مخ ته ودرېد ناڅاپه
د ښامار تندی نږدې راغی سلسال ته
شاه‌مامه وه لا ولاړه دې جدال ته
سلسال ټول قوت په ښی مټ کې راټول کړ
مخامخ يې مار ويشتلو ته ځان جوړ کړ
د نيزې شغ شو چې والوته هوا ته
د برېښنا په شان د مار د تندي خوا ته
په يو پړک د سپرغی خښه شوه تندي کې
د مار سپين صدفي ښکر يې کړ دوه ځايه

په غریو شو هیولا ولاړ له ځایه

سر یې هسک کړ او په ځان باندې راتاو شو

غرغړې یې د لمبو شوې تراسمانه

تاویده راتاویده خپلې تنې نه

سلسال لرې کړه شهې له معرکې نه

زمکه ټوله رپېږدېدله زلزله وه

د ښامار په لمبو سره ټوله دره وه

د مار نیم بدن کوړۍکوړۍ په غره کړې

اسماني نیزه یې خښه وه په خوله کې

یوناڅاپه دروند پر زمکه باندې پرېوت

ته وا غر و چې اسمان څخه راکېوت

سلسال بیا چټک په لوري د ښامار شو

پاس له غره نه د کمرونو جوړ ناتار شو

لویې تیږې رغړېدلې مخ په ځوړه

په ګړ ګړ راتلې ډبرې ان له لوړه

سلسال وویسته نیزه بېرته له ماره

په ښامار شوه د ډبرو جوړه باره

پهلوان نیزه په لاس شهی ته درومي

ټول وجود یې د لمبو په لوګي تور دی

غر سیزلی د ښامار د غضب اور دی

شاه – شهی په لوړه پرښه دي ختلي

په ښامار چې کاڼي اوري ورته ګوري

لا له غره څخه رارغړي لویې ګاګرې

لوی کمرونه غتې بارې لارې لارې

د ښامار ټول وجود پټ شو په ډبرو

بار یې کاڼي شول په سر هم په شهپرو

چې سهار شو یو بل غر دره کې جوړ و

سوې زمکه باندې اور د دوزخ سوړ و

تر ډبرو لاندې خښ ښامار د غره شو

په زندان د تورو کاڼو کې ویده شو

څو بامیان وي، څو څلور رڼې چینې وي

څو رمې وي په ورشو کې څو شپنې وي

څو اتو رڼو ډنډونو ته رسیږي

تر کپروک به د درې چینه بهیږي

تر هغو به دا ښامار دلته ویده وي

چې په لاره د وریښمو تله راتله وي

زنداني به د ډبرو په زندان وي

څو په دې جهان ودان ښکلی بامیان وي

**اتلسم سرود**

هغه ورځ چې مار ډبرو کې بندي شو

ورېښم لار او بامیکان ورنه خوندي شو

خلک ورغلل چې نوی غر وګوري

د ښامار ډبره شوی سر وګوري

ځوانان خوښ دي، اتڼونه دي د پېغلو

عجیبه ده تر ډبرو لاندې غړ دی

شور و شر دی او ځپې ځپې تېرېږي

ته به وایې سمندر دلته بهیږي

ها چینه چې انایتا دلته کیندلې

د اسمان د کبرګل د سترګې اوښکه

د سپېځلي نیلوفر د پاڼې پرخه

ها چینه چې به ښامار توله څښله

اوس تر غره لاندې ځپې ځپې تیرېږي

ته به وایې سمندر دلته بهیږي

دا چینه د غره رګونو کې روانه

د ډبرو په رودونو کې روانه

یو ناڅاپه یې کپروک کې سر راووت
چینه نه وه، د اوبو یو غر راووت
شوې څلور چینې بهانده په کپروک کې
هرې خواته لالهانده په کپروک کې
دا هغه څلور چینې دي، چې نوملي
ساکیاموني د ویښتیا چشمې بللي
د څلور حقیقتونو سرچینې دي
هم رنې دي هم د ژوند غوندې خوږې دي
دا یوه یې د ژوندون له درد و رنځه
د خلاصون د راز موندلو حقیقت دی
دا دویمه یې خلاصون له ځانځانیو
دا درېیمه یې کړاو ته پای موندل دي
څلرمه رڼا لاره تر ډنډونو
غیږې غیږې دا څلور چینې بهیږي
سرچینه یې هغه ځای ته وررسیږي
چې ښامار دی په ډېره بدل شوی
اورنی مار چې تر غره لاندې دل شوی

**نولسم سرود**

نن بامیان کې یوه ښکلې رڼه ورځ ده

ډېر وګړي په کېروک کې راټول شوي

له سهاک کلا راغلی شاه بامیان دی

انایتا چې د اوبو میراو ټاکلی

نن د شاه سترګو کې اوښکې د ښادۍ دي

په نغمو سر چنګ نوازې بامیانۍ دي

چې څلور چینې سپېڅلې راوتلې

ته وا شنه غمي له کاڼو بهېدلې

شاه‌بامیان د خپل څښتن شکر پرځای کړ

منندویه د روښان ساکیامونې شو

چې دریېم پړاو هم بشپړ د ازمون شي

بامیکان به د څلور حقیقتونو

د رڼا د لارویانو روزنتون شي

شاه‌مامه او سلسال وتې په سفر دي

له پامیر څخه تر لوړه هیندوکوښه

اسمایي څخه په لوري د سپین‌غر دي

دوی به راوړي له زړې ګندهارا[۳۶] نه

رنې نښې د هډې[۳۷] له لوی مزدکه

هم روښانه څو ډېوې اراکوزیا[۳۸] نه

د باختر له ناویهاره سپینې بکرې

لاژورد د بدخشان له لوړو غرونو

څو غمې د زمرد له هسک پنجهېره

له نیلاب څخه به نښې د بګرام وي

ښکلي سوات نه نښانې به د باګرام وي

هم به راوړي له هري او ساکستانه

سپین مرمر د لوی هېلمند له ښکلو غاړو

له دې ټولو به ښایسته شي زموږ ډنډونه

بامیکان به زړه د لویې اریانا شي

د څلور حقیقتونو د چینو او

د اتو اصلونو شنو رڼو ډنډونو

په وجود به دغه سیمه شي روښانه

د ساکیامونې ښوونې به بامیان نه

ټول جهان ته ښوول کیږي له دې ځایه

له څلور چینو به جوړ اته ډنډونه

د ویښتیا او روښانتیا د لارویانو

د ظاهر او د باطن نظر ورمینځي

د بامیان په لوړو ګاګرو کې له جوړو

مغارو او دالانو نه به خپریږي

پیغامونه د ساکیامونی روښانه

دا وادي به ښوونځی شي د دې سیمې

د اخلاقو، عاطفې د ژوند او مینې

دا ډنډونه به راڼه او شنه ځلیږي

انایتا به هرکال دلته څرګندیږي

## شلم سرود

مودې وشوې، زابل شاه خپه غمگین دی
په سلسال بچي پسې یې زړگی شین دی
خدای‌زده کومه سمه و غر باندې به سر وي
شاه‌مامې سره به چېرته په سفر وي
د زابل پاچا امید په ده تړلی
زړور او هنرمن یې دی روزلی
د مورکۍ یې هره ورځ پته ژړا وي
پهلوان پسې یې زړه په واویلا وي
د سهاک کلا کې هم اندېښنې ډېرې
شاه‌مامې او په اتل پسې خپگان دی
شاه‌بامیان او شاه مېرمن په زړه غمجن دي
د بامیان و زابل خلک اندېښمن دي
میاشتې وشوې، ژمی ولاړ، پسرلی راغی
خو لا هېڅ پردیس له دوی خبر رانه‌وړ
خدای‌زده چېرته به په نښو پسې گرځي
هېڅ کاروان یې د کوم پل اثر رانه‌وړ

په غمیو، په ډبرو په مرمرو

په هغو سپېڅلیو نښو او ګوهرو

پسې ولاړل چې یې راوړي تر ډنډونو

د څلور حقیقتو اته اصلونو

تر رنځو رنځو چینو او تر بندونو

خوني پړانګ د ګړنګونو بندیوان شو

لوی ښامار باندې هم ډېرې تیږې بار شوې

له اژدر درې کېږوک ته سمندر ځي

هره خوا څلور چینې وړیا بهیږي

سږکال ژمی کنګلونو کې غبار و

د تودو اوبو چینو ایستلې لارې

د یخ غرونو او د واورو سپین بستر کې

د اسمان د کبرګل د اوښکو دارې

د سپېڅلي نیلوفر د پاڼو پرخو

د کنګل په سترګوخښې کړې شوکارې

پسرلی، چې واورې والوتې له زمکې

په نوروز چې پېغلې ووتې نازکې

د څلورو چینو هرخوا بهیرونه

پرې زرغون شول د غاټولو کتارونه

د چینو اوبه روانې وې په دښتو

هغه ځای کې چې په رود شولې ورګډې

نو کوچیانو ورته واړولې کډې

د سپرلي د روستۍ میاشتې ورځې شپې دي

په بامیان کې ورشوګانې زرغونې دي

د اصیلو ګلابونو موج مستي کا

چینارو کې د مرغیو چهچهې دي

هلته دلته نجونې وتې کروندو ته

او د شوخو ماشومانو هلهلې دي

لویه لار باندې تیریږي کاروانونه

بوی د عطرو ته یې مست دي بازارونه

له ختن څخه راغلي سره اوښان دي

د ململو د وریښمو یې بارونه

سوداګر یا د بابل دي یا د چین دي

شپه او ورځ کوي په غرونو کې مزلونه

رود روان دی، د چینو اوبه دي یخې
مازیګر دی خو لا لمر د غره په سر دی
چې له لرې راپیدا دوه مساپر شول
په یوه اس راسپاره وو سره دواړه
پېغلې سر ایښی د خپل محبوب په غاړه
په جامو یې د اوږدو مزلو ګردونه
په څېرو یې ستوماني وهي موجونه
د دنګ ځوان په شوندو غلې شان موسکا ده
د شهۍ په مخ د زلفو اژدها ده
رود نه واوښتل او سترګو نه پناه شول
د سهاک مانۍ په وره کې ناپیدا شول

## یویشتم سرود

د سهاک کلا کې بل دي څراغونه

نن شپه جشن دی خوښي وهي موجونه

چنګ‌نوازو پېغلو بیا سرود اغاز کړ

بیا سندرې دي، ټپې دي اتڼونه

د سوما د صراحیو څه قلُ قُل دی

ساقي ګرځي په محفل ویشي جامونه

شاه‌بامیان له خوشالۍ نه په خندا دی

شاه‌مېرمن د پېغلې لور ترڅنګه ناسته

د میراو ترڅنګه ناست ځوان پهلوان دی

قد قامت ته یې دا ټول محفل حیران دی

له مودو روسته دي بېرته ستانه شوي

له هرګوټ د اریانا یې څه راوړي

نن یې جوړه هرکلي ته مېلمستیا ده

د سهاک کلا کې بزم دی، رڼا ده

شاه‌بامیان به سبا ولېږي استازی

زابل‌شاه ته به وروړي یو داسې زیری

چې سلسال او شاه‌مامه بېرته ستانه شول
په ليدو يې زموږ سترګې شوې روښانه
په بريا يې اندېښمن زړونه راښه شول
چې څلور چينې جاري کړي په ډنډونو
د ساکياموني ښوونو سره سمې
تر دې روسته به باميان کې وي لوی جشن
د شها او د شهۍ د واده بزم
شاه‌مامه به د سلسال د شپو څراغ شي
له دوه زړونو نه به بېل د بېلتون داغ شي
د زابل او د باميان د خېلخانو به
تړون وشي د ګلانو او ګبينو
د سهاک ټبر به خوښ په دې وصال شي
شاه‌مامه چې ښکلې ناوې د سلسال شي
هغه ورځ به له بابا نه تر سورغره
هيندوکوښ څخه تر هسکه سيکارامه[۳۹]
اسمايي نه د پامير تر لوړو څوکو
له باختره تر هېلمنده تر باګرامه

اریانا ټوله خوشاله شي په مینه

مېلمنې به ښاپېرۍ راځي له چینه

هغه ورځ به انایتا د سوریا خور وي

ناویهار به د زردښت روح ته بلېږي

هغه ورځ به په بامیان کې د ویښتیا او

روښانتیا د لارښوونو د پیل ورځ وي

ښوونځی به د څلور حقیقتونو

او د ژوند اتو اصولو وي پرانیستی

له هغې ورځې نه روسته به رادرومي

له هر لوري کاروانونه د ریشیانو[٤٠]

تږي تږي د پېژاند او د پوهنې

د ساکیاموني به کیږي لارښوونې

له دونیا څخه به تږي راروان وي

چې څلورچینو نه وڅښي ریښتیاګانې

سترګې ومینځي په ډنډ کې بیا لیدو ته

په رازونو د هستۍ نیستۍ خبر شي

روح مطلقې رهایي ته رابهر شي

د بامیان په ښوونځي کې به زده کیږي

اروايي سفر ویښتیا او روښانۍ ته

درد و رنځ څخه بې‌پایه خوشالۍ ته

## دوه‌ویشتم سرود

نن د دوبي لومړۍ ورځ ده په بامیان کې

د سوریا بګۍ زرینه په اسمان کې

د کپروک د چینه‌زار په خوا روان دي

لکه ښکلي غمي دوه جوړه یاران دي

الماسي نیزه په لاس د شاه‌مامې ده

نورې نښې په اندې کې د سلسال دي

د څلورو چینو لاره به کړي سیخه

هغې خوا ته چې جوړیږي به ډنډونه

ها چینې او هاډنډونه چې ښوولي

هغه ورځ دوی ته روښان ساکیاموني وو

د بامیان خلک په خدای اتلان سپاري

د وادي تر کوزې څنډې ورپسې دي

زابل شاه مخ په بامیان راخوځېدلی

چې د زوی دیدن ته راشي په ښادۍ کې

ارمانجنه شاه مېرمن هم ورسره ده

د څلور سپینو اسونو په بګۍ کې

د کېږوک د ډبرینو پرښو لاندې

چې رګونه یې تر زړه د هیندوکوښ ځي

د ریښتیا څلور چینې رڼې بهیږي

هیندوکوښ د اریانا ډبرین تاج دی

له لمدو کبلو بوی د غره د زړه ځي

تکې سپینې رابهیږي کاږې واږې

لکه څاڅکي د باران د یار په خوله ځي

دوه یاران د چینو یخ چم کې دمه شول

د ولاړو پرښو سیوري راخوریږي

مازیګر دی د سوریا بګۍ روانه

په زرینو وړانګو غره ته نږدې کیږي

سلسال بیا سر د جانان پر زنګون کېښود

پرې شهۍ د تورو زلفو ابشار پرېښود

پهلوان کړ مست د تورو زلفو عطرو

د چینو تر غاړې ناست دی سلسال تږی

زړه یې غواړي شاه‌مامې نه خولګۍ واخلي

د یار تکو تورو سترګو کې ډوب تللی

له دونیا او له عقبا څخه ورک شوی

د شهی ترځنگه ناست په بېلتون سوزي

د چینو په غاړه جل د عشق وهلی

خدایه کله به اړونه پوره کیږي

خدایه څه وخت به بندونه تړل کیږي

د ریښتیا چینې به څه وخت وربهیږي

چې پوره شي ارمانونه د دوه زړونو

شي یې غېږ ته ښکلې را په مکیزونو

چې د یار له نرۍ ملا نه لاس چاپېر کړي

چې څپې یې د بدن په شونډو شمېر کړي

چې گریوان نه یې سپرلی د عطرو نوش کا

چې ابشار یې د بدن ټول بوسه‌پوش کا

شاه‌مامې د سلسال سترگې ولیدلې

چې هوس په کې څپې څپې وهلې

په خندا یې یار ته سترگې کړې وربرگې

څه دي؟ ولې داسې ځیر ځیر راته گورې

دا په سترگو کې دې نښې د شوخۍ دي

که د مینې په لومړي وار ماته ګورې

زړګی صبر کړه، بس لږ مزل لا پاتې

چې د عشق منزل ته ورسیږو دواړه

چې چینې شي له ډنډونو سره غاړه

په وصال به زرغونه شي د ژوند شاړه

بخملي سینه به زما وي ستا به سر وي

د وریښمو په پالنګ به دې بستر وي

بیا به شونډې درکوم لکه شکرې

شین توتي غوندې کوه خوږې خبرې

## درویشتم سرود

هاغه شپه چې ساکیامونې وه ښوولې

دا ده راغله په افق کې راښکاره شو

هغه ستوری چې د نیل په شان یې رنګ دی

انایتا چې د اوبو او بارانونو

ملکه ده د چینو او د رودونو

نیلي ستوری د هغې د راتلو نښه

نن شپه بیا انایتا راڅرګندیږي

نیمه شپه به شنه اسمان کې رڼایي شي

بې بارانه به بریښنا په هیندوکوښ وي

ځوان سلسال به الماسي نیزه په زوره

د څلورو چینو زړه کې کړي ورخښه

دغه شپه یوه روښانه ښکلې شپه ده

و اسمان ته د شهۍ سترګه رڼه ده

سلسال دنګ ولاړ په پرښه افق ګوري

تورو څنو کې یې ګوتې د باد ښوري

ښکلې پیغله یې ترڅنګ لاس کې نیزه ده

توره شپه کې لکه سپین الماس ځلیږي

شپه پخیږي او کرړي چېرته چریږي

د څلور چینو اوبه خوړ خوړ بهیږي

هلته دلته تت رڼا اوراورکي شي

شومه‌دم دی او کېروک دی او چینې دي

یو ناڅاپه لرې لرې هسکې څوکې

په نیلي غوندې رڼا کې راښکاره شوې

یوه پړکنده برېښنا په هیندوکوښ شوه

او شهې سلسال ته لاس کې نیزه ورکړه

او چې بیا برېښنا ښکاره شوه په اسمان کې

پهلوان د ځوانو متو زور راټول کړ

په قوت یې د څلور چینو تر منځه

سپینه بکره کې کړه خښه الماسینه

د نیزې او سپینې بکرې لګېدو نه

د سپرغیو ستورې والوتل هوا ته

او له دې سره برېښنا شوه شنه اسمان کې

سپینه بکره په منځ وچاوده دوه ځایه

تک سپین رود ډبرین جوړ شولو ناپایه

د ځلور چینو اوبه سره یوځای شوې

د ډبرې رود کې ګډې شوې روانې

شرهار د اوبو داسې یو شور جوړ کړ

لکه سم چې سمندر د غره په خوړ شي

سپینه بکره کې اوبه داسې روانې

لکه لپه د نجلۍ کې رانه ستوري

د درې منځ کې یو شور ګډ د اوبو شو

د سلسال لا تورې ځمې باد ته ښوري

د چینو اوبه په شور مستې بهیږي

ته به وایې هیندوکوښ له خوښۍ ژاړي

له اوبو څخه د غره د زړګي بوی ځي

مخامخ د بابا هسکه څوکه ښکاري

په اسمان کې کراري شوه ستوري پریوت

هغه ستوری چې په رنګ لاژوردین و

شومه دم دی، خو اوس غبږ د کرړې نه‌شته

باد الوتی په هوا کې ګرمي نه‌شته

نن به شپه د دوه مینو په کپروک وي
د څلور چینو د زړه کیسې به اوري
او سبا چې د سوریا بگۍ راخیژي
د اوبو د ډنډېدو به لومړی ورخ وي
د څلور لویو ریښتاوو له چینو به
د اتو اصلونو شنه ډنډونه جوړ شي
هسک بامیان به د مانا په رڼا موړ شي

## څلورویشتم سرود

د بندونو دره سپین سهار ته ویښه

د سوریا بګۍ د غره ترشا رادرومي

د کږې وږې درې عجب منظر دی

لوړې پرښې یې دوه خواوو ته ولاړې

لکه زمکه دې په توره وي تراشلې

د خالق په هنر جوړې دي ډبرې

هلته دلته تراشل شوې دي کمرې

یوه برخه یې له سپینې بکرې جوړه

بله برخه یې د کوچو په رنګ ښکاري

په‌کې یونیم سوربخون غوندې رګ ښکاري

په چاودونوکې یې ځالې د مرغانو

سارایي خړې چنچڼې او ګُل‌سرې

په اسمان کې یې اتڼ د ګوربتانو

سپینه بکره کې اوبه له چینو راغلې

له کپروکه تر درې د بندو  راغلې

لکه زړه نه چې په رګ کې وینه ځغلي

داسې زړه د غره نه سپينې اوبه درومي
هم‌هغسې چې ساکيامونې ويلي
هيندوکوښ نه به سپيڅلې څاڅکي پنځي
اوبه راغلې او خورې شوې په دره کې
په لومړي ډنډ کې راټولې شوې تاويږي
سلسال راوړې د هډې له لوی مزدکه
ها سپيڅلې نښانې گندهارا نه
په لومړي ډنډ کې يې وشيندلې پاکې
هم‌هغسې چې ساکيامونې ويلي
ډنډ راتاو شو لکه شين غمی د گوتې
شيبه روسته ترې اوبه په خپريدو شوې
لږ څه وړاندې د ډبرو تر تاو هاخوا
دوهم ډنډ ته اوبه ورغلې خورې شوې
تکې سپينې شرشرې يې ترمنځ جوړې
شاه‌مامه او سلسال راغلل دويم بند ته
د لرغونو ډيوو نښې ورسره دي
چې يې راوړې له زړې اراکوزيا نه

دغه نښې نذرانه د دویم ډنډ شوې

ډنډ راوڅرخېد پتم شو رونې ځلیږي

په هینداره کې یې شین اسمان ښکاره شو

لکه ستوري چې اوریږي په ابشار کې

داسې لاره اوبو وکړه دریم بند ته

د درې په صدفي دریم بستر کې

اوبه ډنډ شوې تکې سپینې رڼې صافې

میینانو وشیندلې سپینې بکرې

چې یې ان د باختر زړه نه وې راوړې

د سپېڅلي ناویهار له ستر مزدکه

څلورم ډنډ ته یې هم ورنذرانه کړل

لاژورد د بدخشان د لوړو غرونو

د پنجهیر د زمردو غمي ولاړل

د پینځم بند د اوبو تر کومي تېر شول

په شپږم کې د بگرام له شنه نیلابه

رانه گاټي د غمیو غوندې شمېر شول

د باگرام له ښکلي سوات څخه څو نښې

له هري او ساکستانه رنې شګې
سپین مرمر د لوی هیلمند له غاړو غاړو
د اووم نیلابي ډنډ اوبو ته ولاړل
تر دې ځایه اووه بندونه رانه ډنډ شول
له هر ډنډ څخه تر بل پورې رودونه
شرشرې او ابشارونه په نغمو دي
څه عجیبه موسیقي یې جوړه کړې
ته وا : پاروپامیزاد له هره رګه
په نغمو نغمو سندره پنځېدلې
اووه ډنډونه یو له بل سره ګډیږي
د سرلوړې اریانا له نغمه زاره
شرهار د ابشارو او شرشرو دی
یکه‌زار هم د رودونو د غړو دی
په حسرت دي دوه مېین ولاړ دره کې
د اوبو د بهیدو پسته وږمه کې
د سلسال او شاه‌مامې سترګې ګنډلي
د اوبو په هریو ډنډه هره شېله کې

د روستي بند د اوبو شرهار اوري

دې اتم ډنډ ته به ګرانه ډالۍ ورکړي

ها د ښکلې شاه‌مامې د ژوند همزولې

د میینو د خواږه ژوندون ملګرې

ها یادګار د بارانونو د څښتنې

الماسي نیزه چې نښه د اسمان وه

هم زرینه هم د سپین ستوري په شان وه

انایتا وه د لاس نښه رالیږلې

د باران په لویه شپه یې وه ویشتلې

ها چې پړانګ یې د بابا د غرو بندي کړ

او ښامار یې د غره غېږ کې زنداني کړ

اتم ډنډ څه عالي‌شانه را جوړیږي

ته به وایې سمندر دی راغونډیږي

داسې شین، لکه لوی ډنډ د لاژوردو

لکه لاره د اسمان د رهنوردو

داسې روڼ لکه د عشق لومړنۍ اوښکه

څه ځلانده لکه لمر چې عقیق پوښ که

اتم بند نه و، د زمکې لوی اعجاز و

یو سکون و، څه عجیب د زړه اواز و

دوه میین ورته ولاړ وو په شنو څنډو

په اسمان کې یو شاهین لا په پرواز و

په اتمه ورځ راډک شو له اوبو نه

اتم بند د اوو ډنډو له شرشرو نه

دا شېبه هم د خوښۍ وه هم د غم وه

د سلسال او شاه‌مامې دا روستی اړ و

د وصال ترمخ هېڅ خنډ نه و ورپاتې

خو څه پټه اندېښنه یې وه په زړو کې

چې به څه پېښ شی راتلونکیو ورځو شپو کې

چې سوریا بګۍ د غره خوا ته نږدې کړه

یو د زاڼو کتار راغی له ختیځه

د اتم ډنډ یوې څنډې ته راشین شو

نیلوفر پر دغه زمکه ګلورین شو

د لومړي ډنډ لمرخاته خواته په څنډه

له بامیان نه خبرلوځ راته په منډه

هم‌هغسې چې ساکیامونې ویلې

دوه مینو هم شپې ورته شمېرلې

د سوریا بگۍ چې تم په سر د غر شوه

سره رڼا د اتم ډنډ په څپو سر شوه

شاه‌مامې سلسال ته ورکړه الماسینه

ها زرینه هم د ستوري غوندې سپینه

انایتا چې د باران په شپه گوزار کړه

شاه‌مېرمن نه يې د رنځ بلا ایسار کړه

په روستۍ شپه د ښکلې مازیگر کې

چې لمر ډوب و د غروب په سره ځيگر کې

پهلوان د مټ په ټول توان گوزار کړه

اسمانې نیزه د بند د زړه په سر کې

نیزه تلله، تلله په اوبو کې

پرکېده لکه برېښنا په شنو څپو کې

خدای‌زده څومره به ژوره وه روانه

چې ناڅاپه پرک برېښنا شوه له اسمانه

اتم بند د دوه مینو پښې ښکل کړې

دوه رنو اوښکو د مينې غوټۍ ګل کړې

## پینځه‌ویشتم سرود

د سهاک کلا ته تېر ماښام زابل نه

مېلمانه رارسېدلي عالیشانه

زابل‌شاه چې اریانا کې یو لوی نوم دی

پېژندلی هم په هیند دی، هم په روم دی

نن راغلی د بامیان ښکلې وادي ته

د خپل ایکي یو شاه‌زوی خوږې ښادي ته

شاه‌مېرمن هم ورسره ده له زابله

سندرغاړي دي راغلي له کابله

شاه‌بامیان بزم بللی د څښاک دی

جشن جوړ نن په کاله د لوی سهاک دی

خبر راغی د بندونو له درې نه

چې اته واړه ډنډونه شنه ځلیږي

د کېروک څلورچینې سپینې بهیږي

دوه جوړه میین روان دي په دره کې

چې راپیل کړي د اتو لویو ډنډونو

د سپېڅلي سفر هغه پړاوونه

چې ساکیاموني دي دوی ته ورښوولي
په لومړي ډنډ کې به مینځي خپلې سترګې
په بل ډنډ کې به لاسونه له ازاره
په درېیم کې به نفس ټک وهي له حرصه
څلورم کې به پښې له بیا راتلو نه
په پینځم کې به ترهغو مخ ته ګوري
چې په خپل عکس کې پیدا کړي پټ رازونه
له شپږمه به د زغم غوړېونه وځښي
د اووم له څاڅکي څاڅکي به راوینښ شي
په اتم کې به په لویه هستۍ ګډ شي
شاه‌مامې او سلسال ومینځلې سترګې
د بامیان په لومړني سپېڅلي بند کې
واه! عجیبه شان بدلې يې شوې سترګې
لکه نوې رڼايي چې شي رابره
یو عجیب تصویر يې راغی تر نظره
له یو بند څخه تر بله رڼا کیږي
تت تصویر د حقیقت لا روښانیږي

په اتم ډنډ کې يې وليده له ورايه

نيروانا ورته ولاړه سر ترپايه

نيروانا څه ده؟ هېڅوک پرې نه پوهيږي

مګر دا چې د باميان په بند ګډيږي

نيروانا د «رهايي» روستی منزل دی

په سکوت او په سکون کې ډوبېدل دی

اوس نو دوه ميينان هم پخواني نه دي

چې پرون وو دوه ياران غاړه په غاړه

اوس په يو روح کې ګډ شوي سره دواړه

ټول جهان اوس يو وجود دی، دوی يې برخې

په يوه وجود کې نه‌شته توپيرونه

تر بې‌پايه رنځ و درد وروسته څرګنده

يوه ځرښنده جلوه له اتم بنده

شاه‌مامه او سلسال دواړه راروان شول

په تکل د يوه نوي لوی جهان شول

دوی د درد و رنځ له ځرخه[٤١] اوس وتلي

نيروانا جلوې يې ډنډ کې دي ليدلي

**شپږویشتم سرود**

دوه میین وو د اتو بندونو څنګ ته

چې زابل نه مېلمانه بامیان ته راغلل

د سهاک مانۍ ښایسته وه اوس بې‌شانه

شا او خوا لارې یې ټولې وې روښانه

په ورځ موج و د غوټیو او ګلونو

شپه یې ډکه له ډیوو او څراغونو

ټول په تمه وو، چې لوی جشن به جوړ شي

په ښادیو به زابل و بامیان موړ شي

د ساکانو خېلخانې وې څه خوشحاله

د سوما ښایسته ساقیانې سربداله

د بامي ساکانو دود له پخوا دا و

خدای‌زده دا رواج له کومه راپیدا و

چې د زوم او ناوې ګډو کورنیو

جوړولې دوه کوټې پرده پوښلې

ها کوټه چې به د ناوې په نامه وه

اسمانې پرده یې وره ته ځړېدله

او د زوم د کوټې وره ته به پرده وه
تکه سره لکه یاقوت به ځلېدله
ناوې و زوم به هریو خپل اتاق ته ولاړل
د واده نوې جامې یې اغوستلې
لمرخاته به پردې پورته شوې له وره نه
دوه ښایسته هلک نجلۍ به رابهر شول
مېلمانه به ښځې و نر ورته ولاړ وو
ځوانان پېغلې به یو دم په اتڼ سرشول
د ډول غږ به شو راتاو په بامیکان کې
نڅاګرې به راګډې شوې میدان کې
مګر دا واده بې‌شانه لوی واده و
د زابل پاچا راوړي سپین او سره وو
د بامیان د میراو لویه مېلمستیا وه
د ورېښمو په لار جوړه تماشا وه
د بامیان او زابل خلک وو راوتي
دا واده د هر ساکي د زړه ارمان و
په دې جشن کې ورګډ هر زوړ و ځوان و

خلکو جوړ کړل دوه تاقونه د غره ډډ کې
د بامیان د درې هغه دیوالونه
چې تراشلي یې ښتن ډبرین غرونه
چې په کې دي مغارې او دالانونه
تالارونه، لارې لارې دهلیزونه
چې ساکیاموني راغلی و ختیځ نه
د ویښتیا او روښانتیا لار یې ښووله
خلکو هغه ځای کې جوړ کړل دوه تاقونه
په لوړ غره کې مخ ختیځ ته رواقونه
یو رواق د زابلي سلسال لپاره
بل یې ښکلې شاه‌مامې ته و توږلی
د ساکیاموني تالار ته چې نږدې وي
د ویښتیا وړانګې به هلته لاخورې وي
د ساکي ټبر دا ښکلي نازولي
چې د یو بل په وصال سره خواږه شي
د بامیان د ګلابونو په باران کې
په سرلوړو چینارو کې به واده شي

ناوې و زوم به د بامیان رواج په ځای کا

لوی رواق کې به سلسال جامې اغوندي

په دا بل کې به شاهزۍ خپل ځان سینګار کا

د بامیان نجونې ګلابو پسې ګرځي

شاه‌زلمیان غوړوي ځنې مست اتڼ ته

شاه‌زابل او شاه‌مېړمن یې مېلمانه دي

د سهاک کلا کې ډېرې رڼاګانې

چا راوړي سجاوند[٤٢] نه د عطرونو

ښیښې ډکې د سنځلو له ګلونو

چا راوړي دي وریښم له چین ماچینه

چا یوه رمه پسونه له اوزبینه[٤٣]

چا له روم څخه دیبا راوړې ښکلې

چا له هینده دي راوړي پایزېبونه

د سرو سپینو کمی نه‌شته په بامیان کې

له هرخوا رارسېدلي سوغاتونه

د اتو بندونو غږ دی لګېدلی

له هرلوري راروان دي کاروانونه

د سلسال او شاه‌مامې واده پیلیږي

د مست باد شپېلۍ ته ناخي چینارونه

## اووه‌ویشتم سرود

په تراشلي دیواله د غره کې جوړ دي

لمرخاته ته مخامخ دوه رواقونه

یو له بل څخه دي زر قدمه لرې

تر دې منځ یوبل ته لارې دالانونه

لوی رواق ته تکه سره پرده لوېدلې

د وریښمینو اوو پردو یې دي اړونه

بل رواق ته اسماني اوبرنګ ورېښم دي

د لاژوردو شرشرې غوندې یې ولونه

په شګلن دیوال د غره کې داسې ښکاري

د سرو شونډو چې تر خوا وي شنه خالونه

لکه دوه غمي ځلیږي په پېزوان کې

یا له سرو شرابو ډک نیلي جامونه

دوه رواقه د بامیان په تندي ښکلي

یو یې سور دی، بل اوبرنګ اسماني بریښي

د سهاک کلا کې ډېر خدمتګاران دي

د واده په کارو بار کې سرګردان دي

له سوما نه ډک خمونه هرخوا ایښي
له جامونو سره مل ښکلي ساقیان دي
رڼا ګانې دي عطرونه دي ګلان دي
څو ټولیه ربابیان دي او ډولچیان دي
هغه ښکلې مستې پېغلې هم راغلي
چې د چنګ نغمو یې ډېر زړونه داغلي
دوی د چنګ د تار له رګه لمبې باسي
سوز و ساز د عشق په روح کې ننباسي
نن شپه هغه ښکلې شپه ده په بامیان کې
چې د دوه زړونو تړون شوی اسمان کې
نن به شپه د خوشالۍ وي د شاهانو
د زابل او د بامیان د تاجدارانو
بس چې درې پاره اوښتې دغه شپه وي
د حمام هوا به عطرو کې لمده وي
ماه‌پیکره سیمین تنه خدمتګارې
ښکلې ښکلې مشاطې به وي په لارې
د ورېښمو د پردو شاته ولاړې

شاه‌مامه به تر سپېدو مخکې وردرومي

د خوشبویه ډیوو لوی کتار به جوړ وي

د ډیوو او د عطرونو په وړمو کې

د تودو سرو اوبو رنو ځپو کې

له اوبرنګ کاشیانو جوړ حوض که به لامبي

له سپېدو سره به ځي اسماني تاق ته

هغه ښکلي ډبرین اوچت رواق ته

چې جامې د زابل‌شاه کور ورته ایښي

دا رواج دی د ساکانو له پخوا نه

چې به ناوې ته جامې د زوم له کوره

راوړل کیږي، تر هغې کوټې چې جوړه

د اوبرنګه اسماني پردو تر شا ده

او بیا زوم ته به جامې د ناوې کور بړدي

د سرو رنګو پردو شاته په کوټه کې

شاه‌بامیان دي د سلسال جامې لیږلې

ها رواق ته چې په غره کې کېندل شوی

چې ترمخ یې سرې وریښمینې پردې زانګي

د سلسال سر د مورکۍ په زنګون ایښی

د خپل ټول ژوندون بهیر ته فکر وړی

بس چې درې پاره له شپې نه وي وتلي

پهلوان به په خپل ښکلي اس سپریږي

مخامخ به د بامیان رود ته وردانګي

د سرلوړو چینارونو تر خم هاخوا

د مست رود تُندو څپو ته به تن سپاري

له ځوانیه د سلسال دغه عادت دی

د وطن د سیند اوبو کې یې خلوت دی

له سپېدو سره به ځي د سرو وریښمو

د پردو ترشا رواق ته چې جوړ شوی

مخامخ د غره د هسک دیوال په زړه کې

په رواق کې به وي ایښې شاه‌بامیان وي

د واده ښکلې جامې د ده لپاره

دوه رواقه ښکلي ښکلي په پردو دي

د یوه ترمخ اوبرنګه اسماني دي

او د بل ترمخ سرې رنګه الواني دي

لمرخاته ځخه به وړاندې زوم او ناوې

خپلو خپلو رواقونو کې سینګار شي

د واده ښکلې جامې به کړي په غاړه

د سوریا بګۍ د غره شا ته ولاړه

لمرخاته سره به خلک دلته راشي

چې د لمر تروړانګو لاندې ننداره کړي

زوم او ناوې به راوځي له پردو نه

ټولې لارې به په ګُلو باندې فرش وي

د بامیان خلک به ټول دلته کتار وي

د واده لومړۍ شپې به راپیلیږي

زوم او ناوې به ماڼۍ ته روانیږي

دغه شپه عجیبه شپه ده په بامیان کې

ولولې او تلوسې دي هر روان کې

یو عجیب مرغه چغیږي په تیاره کې

ناڅرګنده ویره پټه د شپې زړه کې

**اته‌ویشتم سرود**

بامیکان کې د ختیځ لمنه سپینه،

لا نه ښکاري د سوریا بګۍ زرینه

یو خوشبویه سباوون راپیل شوی

د چنچڼو شور ورګډ په چینارونو

د کپروک څلورچینې سپینې رڼې دي

سهار رنګ اخلي له شنو اتو ډنډونو

د اژدر له درې پټ د غره په زړه کې

سمندر په شور بهیږي په موجونو

د بابا د هسکې څوکې په سر ژانې

هیندوکوښ کې لا شور ګډ د توپانونو

ټول د پاروپامیزاد غرونه په شور دي

له پامیره ان د غور تر منارونو[٤٤]

په خوړونو کې هوسۍ دي ترهېدلې

کټ کټا راځي د زرکو له ناوونو

ها مرغه چې ټوله شپه نغمه سرا و

غږ یې ګډ دی د بلبلو په غږونو

عجیبه ده، ټول بامیان سندرې وایي

شرهار اورېدل کیږي د رودونو

روستی ستوری د سهیل لا تت ځلیږي

خلک ډله ډله ځی د غره په لوري

د هرچا په لاس ګلونه دي څو رنګه

د زلمیو پېغلو زړونه په شور شوري

د سهاک له کلا وځي ډېر اسونه

څو بګۍ چې په ګلونو یې پوښلي

شاه‌مېرمنې د زابل او د بامیان دي

د څلور سپینو اسونو په بګۍ کې

په اسونو یې ترمخ جوړه شاهان دي

د لښکرو په سر رپې بیرغونه

رواقونو ته ټول خلک راروان دي

لارې ټولې په ګلونو ښایسته شوې

د مانۍ برجونه لاهم څراغان دي

سپین سهار شو خو لا لمر ختلی نه دی

نسترن، ګلاب هر ځای دي غوړېدلي

رواقونو سره خلک راټول شوي

تورو، سرو او شنو جامو کې ښکلې پېغلې

لکه باغ کې د غاټولو کتار جوړ وي

یوه ډله د ډولچیانو ده راغلې

چنګ‌نوازې پېغلې هم هلته ولاړې

دوه شاهان راغلل د ټولو خلکو سر ته

ورپسې یوه ګلپوښه بګۍ راغله

د څلوراسونو شاته راروانه

په کې ناستې شاه‌مېرمنې عالیشانه

سپین سهار دی او لا شور دی د چنچڼو

لا د باد شوخۍ ته ناځي چینارونه

خلک ځیر دي هم شاهان هم شاه‌مېرمنې

چې لمرڅرک وهي نو ښکلیو رواقو نه

ها د غره غېږه کې جوړو دوه تاقو نه

زوم او ناوې به راووځي ولولو کې

ټولو سترګې دي ګنډلې په پردو کې

لوی رواق ته تکې سرې پردې پرتې دي

د دې بل اسماني رنگه شنې پردې دي

شاه‌مامه ده د اوبرنگه پردو شا ته

د زابل گڼ مېلمانه يې شاوخوا ته

د گلرنگه سرو پردو تر شا سلسال دی

د باميان د خلکو زړه ورته خوشحال دی

بس چې لمر ځرک راوهي له پورې غره نه

چې سوريا بگۍ راباسي له کاله نه

په گلپوښه لار به بږدي د ناز گامونه

له هرخوا به پرې شيندي خلک گلونه

لکه دوه ښکلي غمي به کړي روښانه

د ساکانو زړه له سوگد[٤٥] ترساکستانه[٤٦]

چې لمر ځرک وهي له دوو رواقونو

ميينان به بدرگه شي په ډولونو

د زلميانو به اتڼ کې ځنې تاو شي

او د پيغلو به اغاز شي سرودونه

سرې – نيلي پردې ښوريږي رواقو کې

تلوسې دي، ولولې دي دلته زړو کې

په لمرځرک به رواقونه رابربنډ شي
د پردو له شا به ستوري راڅرګند شي
دوه میین به له یو بل سره پیوند شي
د ساکي ټبر ډېر زړونه به خورسند شي
ډېرې سترګې رواقونو ته په تمه
چې سوریا بګۍ راهسکه کړي له برمه
درې لمرونه به نړۍ کړي راروښانه
هلهلو کې به جوړه شي راروانه

**نهه‌ویشتم سرود**

د ختیځ په رګ کې وینې شولې ګډې

د تیارو اغیارو ونغاړلې کډې

د سوریا د ها زرینې نیزې څوکې

د شفق لمنه څېرې کړه په نوکې

په زرهاوو سترګې پاتې دي پردو ته

د پردو ترشا  رنګینو رواقو ته

په سینو کې نفسونه بندي شوي

او فکرونه له ذهنونو پردي شوي

ټول دیدن د شاه‌مامې ته دي لېواله

ستا جلوې ته سترګې تږې دي سلساله!

شاه‌مېرمنې د اسونو په بګۍ کې

اضطراب اوښکې موسکا ساتي خوښۍ کې

یو کتار خدمتګارانو پر سکروټو

ډېرې سپاندې او ماټو پاڼې شیندلې

هوا ټوله ده د عود په دود خوشبویه

بلې خوا ته د ګلابو فرش هوار دی

چې په دې ځای به یوځای شي سره دواړه
د واده ښکلې جامې به‌ی وي په غاړه
د سوریا بګۍ ښکاره شوه په اسمان کې
لمر لومړۍ څړیکه راوکړه پورې غره نه
د شاهانو لمبې ووتې له زړه نه
اوس به لرې شي پردې ښکلې وریښمینې
راښکاره به شي څیرې ښایسته مهینې
د واده جامو کې جوړه شاه‌مامه او
سینګارلی پهلوان سلسال به ووځي
په ګلونو فرش هوارې ته به راشي
د پلرو میندو د زړو غوټۍ به وا شي
لمرراووت او د غره په دیوال پرېوت
طلایي یې کړه ډبره سرتر پایه
خو رواق ته پردې نه خوځي له ځایه
نه د تکې سرې پردې څنډه ښوریږي
نه اوبرنګه اسماني پرده خوځیږي
سترګې برندې او مېخ شوې په پردو دي

ته به وايي خولو نه زړونه  په وتو دي

چې وعده د لمرخاته خو يې په ياد ده؟

د وريښمينو پردو شاته وړانگې وينې؟

لمر راوخوت خو د ناوې خبر نه‌شته

هېڅ له زوم څخه کوم غبر يا اثر نه‌شته

اووه وريښمينې پردې زوړند الواني دي

بل رواق ته اووه وريښمينې اسماني دي

هېڅ يو لاس نه‌شته چې دا پردې کړي پورته

د خوښيو چيغې لوړې کړي هرلور ته

څه مرگونی سخت تېرېږي په دې لاره

انتظاره، انتظاره، انتظاره!

شاه‌باميان لړ وارخطا دی لاس يې رپي

د زابل پاچا لا چوپ په ځای ولاړ دی

شاه‌مېرمنې په بگی کې شوې پرېشانه

د ښايسته ناوې همزولې شوې ستومانه

لمر چې څو لويشتې له غره نه شو راپورته

ټولې سترگې وې د دوه رواقو لور ته

د شاهانو زړو کې صبر و زغم تمام شو

شاه‌بامیان کوز له خپل اسه سرانجام شو

څو خوارږه زلمي همزولي د سلسال یې

خواته وبلل چې ورشي تر رواقه

څو خورلڼې د شهۍ یې کړې روانې

د لورکۍ د نیلي رنګ پردو تر تاقه

ویل یې ورشئ او پردې یوه یوه کړئ

له بهر څخه ورټولې چې رڼا شي

ګوندې دواړه شي خبر چې لمر ختلی

ښایي رابه شي بهر نویو جامو کې

ګوندې تللې ساه مو وګرځي تنو کې

د همزولو زلمو نجونو ټولۍ ولاړې

ګڼې سترګې لا پردو ته وې ولاړې

رواقونه څه سرلوړي د غره ډډ کې

د لمر مخامخ بنګړو ته زرین ښکاري

سره پرده لکه یاقوت داسې ځلیږي

اسماني یې سمندر غوندې ښکاریږي

د شګلنو تيږو رنګ طلايي ښکاري
د زلمو نجونو ټولۍ ورنږدې کيږي
د ورابانو په ګوګل زړونه درزيږي
د ليدو شيبه ورو ورو رانږدې کيږي
د غره زړه کې سهمګين دي رواقونه
د پردو تر شا يې پټ دي ميين زړونه

**دېرشم سرود**

د زلمو ډله د سرې پردې ترڅنګه
او د نجونو ټولۍ ولاړه تر اوبرنګه
شاه‌بامیان ورته د لاس اشاره وکړه
زلمو نجونو لومړنۍ پردې کړې لرې
لاهېڅ غږ د پردو شاته د چا نه‌شته
لاتر نورو پردو نه‌ښکاري دننه
د همزولو د نارو ځواب رانه‌غی
نه ملګری غږ کوي او نه خورلڼه
شاه‌مېرمنې شوې راکوزې له بګۍ نه
زابل‌شاه ته وېره ولوېده وادۍ نه
ټول حیران دي، پرېشاني ده اضطراب دی
مړاوې شوی د پاچا لاس کې ګلاب دی
شاه‌بامیان زلمو او پېغلو ته غږ وکړ
رواقونو نه دا ټولې پردې واخلئ
زموږ د ګرانو له څېرو نه تیارې واخلئ
زلمي نجونه د پردو په ټولېدو شول

**سلسال او شاه‌مامه/ ۱٤۲**

دوه شاهان او شاه‌مېرمنې په ورتلو شول

دا نور خلک ورپسې گامونه اخلي

اندېښنې له ډکو زړو جامونه اخلي

بس همدا چې د روستيو پردو وار شو

د ابهام غبار له لمره راگوزار شو

چې روستۍ پردې يې لرې کړې همزولو

حيرانتيا شوه را خوره په مخ د ټولو

لويه خدايه! دا څه وينو په رواق کې

نه سلسال نه شاه‌مامه شته په اتاق کې

هسکو دنگو رواقونو کې ولاړ دي

دوه څېرې لکه ډبرو کې توږلې

لکه غره نه انځورگر چې وي تراشلې

د سلسال رواق کې لوی جسم ولاړ دی

د ساکيامونې په شان يې څه اغوستي

تک سور لوی څادر يې جسم څخه تاو دی

ان د غره تر هسکې څوکې پورې دنگ دی

هاخوا بل رواق کې هم ولاړه ښکلې

شاه‌مامه ده ډبرینه په جامه کې

او ترې تاو څادر اوبرنګ اسماني ښکاري

د امير د بند په شان نيلابي ښکاري

د تراشلي غره په لوړ ګوګل کې ښکاري

دوه ولاړې ډبرينې لوړې پڅې[۴۷]

له هيبته ډکې ښکلې او رنګينې

چې باميان کې چا پخوا ليدلې نه وې

بس همدا مجسمې وې د ډبرو

نوره نښه د شها او شهۍ نه وه

نه سلسال په خپل رواق کې ښکارېدلو

نه په بل کې شاه‌مامه د پردې شاته

لکه غره چې وي له ستوني نه تېر کړي

لکه تيږو وي په ګېډه ننه ايستي

لکه نه‌چې د زابل زوی و راغلی

لکه نه‌چې د باميان لور وه زوولې

د زابل ناوې او زوم د باميان دواړه

رواقونو وو خوړلي په سپېدو کې

لمر راوخوت خو د ښکلیو نښه نه وه

هیڅوک نه‌شول خبردار چې پېښه څه وه

څوک خبر چې شاه‌مامه او سلسال څه شول

سپیده‌چاود نه روسته هېڅ ترسترګو نه شول

بس په دنګو رواقونو کې ولاړ وو

قامتونه د ډبرو په کې لواړ وو

د ډبرو یو قامت الواني رنګه

بله ښکلې یې نیلي اسماني رنګه

وه سلساله! خلکو ډېرې نارې وکړې

شاه‌مامې! د بامیان لورې، وایه څه شوې

خو رواق څخه هېڅ غږ د چا رانه‌غی

د پردو پردو له شا رانه‌غی

خدای خبر ساکیامونې څه وو ویلي

خدای‌زده څه یې وو روستي بند کې لیدلي

خدای‌زده چېرته وو شها او شهې تللي

ډبرین دوه قامتونه یې وو پریښي

هیچا بیا خبر رانه‌وړ چې دوی څه شول؟

شاه‌مامه او سلسال برخه د دې غره شول

ښايي دوی وو رسيدلي نيروانا ته

لوی يادگار يې و پرېايښی اريانا ته

## یودپړشم سرود

له هغه سهاره ډېر کلونه تېر شول

د لیدن خواږه یادونه واړه هېرشول

ډېرو یووړل ارمانونه په گوگل کې

ډېرو ولیده جانان پاڼو د گل کې

ډېر گلونه شول زرغون د غرو لمن کې

د غاټولو زلمو وخندل چمن کې

د بابا د غره لمن کې ورشوگانې

رازرغونې شوې او والوتلې زانې

شول راتاو په هیندوکوښ کې توپانونه

واورو وپوښل د لوړو غرو سرونه

له هرلوري راغلل ډېر ډېر کاروانونه

د وریښمو په لار تېر شول ډېر کلونه

د وریښمو له کاروان سره به مله وو

د بامیان د ښوونځي به مېلمانه وو

د ساکیامونې مخلصه لارویان وو

د انسان په «رهایي» پسې روان وو

دوی به راغلل چې بامیان کې شي روښانه
رڼا واخلي د سوریا له دبستانه
چې راوېښ شي او له ژونده مانا واخلي
انایتا چې له اسمانه برېښنا واخلي
لارویان له هرې خوا نه راروان وو
پوهېدو پسې په لوري د بامیان وو
بهېدې څلورچینې د حقایقو
او په خندو یې ګلان د شقایقو
اته بنده د اتو اصلونو ډنډ وو
خوني پړانګ لا د بابا ګړنګ کې بند و
د اژدر دره کې غر په ښامار جوړ و
تر کپروکه غر په لوی سمندر موړ و
لرې لرې ان له چین او له ماچینه
هیندوستان نه د کاسغر تر سرزمینه
مریدان به راروان کتار کتار وو
لوی ارمان یې د بامیان درې دیدار وو
دوی به راغلل چې ډنډونو کې راڼه شي

درد و رنځ د ژوندانه نه په واته شي

د بامیان تراشلي غره کې تالارونه

لارې لارې دهلیزونه دالانونه

په کې ناست به وو روښانه ویښ ښوونکي

د ساکیاموني د پوهې خوروونکي

بامیکان و په دې ټولو مشهور شوی

ښوونځی د روښانتیا و نومېدلی

خو لا ډېرې سترګې تږې د لیدو وې

ډېرو زړونو کې په ځوښ لا تلوسې وې

چې په غره کې دوه کیندلي رواقونه

هغه ښکلي دنګ ولاړ د غره تاقونه

په خوږو سترګو د روح د بڼ مېلمه کړي

راژوندی د خواږه عشق یوه کیسه کړي

چې د زړه په سترګو ښکل کړي رواقونه

په کې جوړ د دوه میینو قامتونه

د سره رنګ څادر کې نغښتی سلسال ښکلی

د زابل د زړه ټوټه، هغه غښتلی

هاخوا ښکلې شاه‌مامه په شنه جامه کې
د باميان لور په اوبرنگه  شرشره کې
دغه دوه مجسمې پر دې دونيا شوې
پېژندوېې نښانې د نيروانا شوې
پېړۍ واوښتې او ډېر کلونه تېرشول
تلليو خلکو څخه ډېر يادونه هېرشول
دوه ښايسته مجسمې د باميان زړه کې
وې ولاړې مخامخ په دالانه کې
هرسهار به چې لمر هسک شو پورې غره نه
چې سوريا بگۍ ايسته د شپې له زړه نه
د لمر وړانگې به اول پر دوی خورې شوې
په سلام به د سلسال او شاه‌مامې شوې
د ډېرو دوه جسمونه به زرين شول
سره اوبرنگه به د وړانگو په نگين شول
عشق د دوی نومونه هسک په ټول جهان کړل
دوه صنمه يې په زړه کې د باميان کړل
څو بندونه د امير وي، څو چينې وي

څو چې پاروپامیزاد درې درې وي

څو جهان وي، څو د مینې کارنامې وي

له سلسال سره به نوم د شاه‌مامې وي

پای

***

د پای نېټه:

د ۱۴۰۴ د ثور ۲۰مه

د ۲۰۲۵ د مې ۱۰مه

**ځرګندونې:**

د «سلسال او شاه‌مامه» کیسه، په ساده بڼه د افغان ولس ترمنځ د یوې فولکلوریکې افسانې په بڼه شته، یو شمېر لیکوالو هم رااخیستې، له هغې ډلې ارواښاد خلیل الله خلیلي رانقل کړې او ښاغلي جواد خاوري هم په «*شګفتي های بامیان*» کتاب کې خوندي کړې ده. زموږ د دغې منظومې زړی هماغه فولکلوریکه کیسه ده.

کتلای شئ:

( شګفتی‌های بامیان واقعیت و افسانه: جواد خاوري، نشرعرفان، ۱۳۹۶، ۴۹ مخ)

په منظومه کې ځینې نومونه، اصطلاحات او ځایونه پېژندنې ته اړ وو، چې دلته یې لنډې پېژندنې لوستلای شئ:

---

[۱] - **بابا** (غر): د افغانستان په مرکزي سیمو کې د غرونو د هغې لړۍ نوم دی، چې له هیندوکوښ غره څخه د بامیان درې بېل کړی دی، تقریباً له ختیځه لویدیځ ته د یوې کرښې په بڼه پروت دی. لوړه څوکه یې (شاه فولادي) له سمندره ۵۱۴۰ متره لوړه ده. د امیربند، هري‌رود، او د هېلمند سیند څه څانګې له همدې غره سرچینه اخلي.

( اریانا دایرة‌المعارف (دري)، د افغانستان د علومو اکاډمي، ، دویم ټوک ۱۳۸۷، ۱ مخ)

په يشتونو کې يې د هېلمند او هري‌رود سرچينه د «اپارسن» غر ياد کړی، چې ښايي د بابا غره د زردښتي دورې نوم به و.
( وګورئ يشت‌ها : ابراهيم پور داود، انتشارات اساطير، ۱۳۷۷، دويم ټوک ۳۲۶ مخ)

[۲] - **پاروپاميزاد**، پاراپاميزوس Paropamisadae : په اصل کې يوه پراخه غرنيزه جغرافيا ده. پارو پاميزاد يوه لرغونې سيمه وه، چې د افغانستان له شمال‌ختيزو او د پښتونخوا له شمالي برخو رانيولې تر غور او هرات پورې د غرونو لړۍ په‌کې شاملې وې او د هيندوکوښ د غرونو په ګډون يې پخوا پاروپاميسوس بلل. دغو لوړو څوکو ته يې هيندي ققفاز Caucasus Indicus غرونه هم ويل. د "پروپاميسادی" نوم يوه لرغوني اريايي اصطلاح ده، چې ځينو يې ريښه يوناني ګڼلې او د دوی په باور يوناني الکساندر او سلوکي واکمنو به يوه لويه غرنيزه جغرافيا په دغه نوم يادوله. دا د يونان‌وباختري واکمنيو او هيند ترمنځ د فرهنګي او سياسي اړيکو يوه مهمه سيمه وه، په ځانګړي ډول د ورېښمو د لارې پر سر يې د پېچلو لارو له اړخه اهميت لاره. اريانا دايرةالمعارف يې بيا د فيروزکوه (سفيدکوه) لويديځ ته د غور ولايت د دولت يار ولسوالۍ له شمالي څنډو پيل شوې بولي چې تر قزل بولاق او د هرات تر شمال پورې غځيږي. اريانا پوهنغونډ ليکي چې د غرونو دا لړۍ ۴۰۰ کليومتره اوږده ده او د مرغاب په ګډون د هري‌رود ځينې ځانګې ورڅخه سرچينه اخلي. دغه غر په لويديځ کې د هرات په کشک، ګلران او کوهسار سيمو مشرف دی.
( هماغه اريانا دايرةالمعارف -۲- ۳۷۰)

۳ - **بامي**: د بلخ د لقب تر څنګ، یو ډول غرنی ګل دی. شیخ اسعد سوري (۴۲۵هـ مړ) په خپله مشهوره بولله کې فرمایي:

نه غټول بیا زرغونیږي په لاښونو

نه **بامي** بیا مسېده کا په کهسار

پوهاند عبدالحی حبیبي یې په شرحه کې لیکي: بامي نوم اوس نه کاریږي، په پارسي ادب کې د بلخ له نامه سره راغلی، علامه ابوریحان بیروني د بلخ په اړه کښلی: « بلخ و اسمه فی‌القدیم **بامي**» ځینې فرهنګ کښونکي د بامیان نوم هم له همدې بامي څخه اخځ شوی ګڼي.
(پټه خزانه، محمد هوتک، د پوهنې وزارت، ۱۳۳۹لمریز ۴۴ / ۲۳۹ مخونه)

٤ - **کُپروک**: په بامیان کې هغه سیمه چې د بند امیر ډنډونه ورځخه سرچینه اخلي د کُپروک په نامه یادیږي

٥ - **بامیکان**: بامیک او بامیکان د بامیان لرغوني نومونه دي. استاد حبیبي لیکي: « بامیان د پهلوي د بامیک یوه بڼه ده او هغه ډول چې ارمني مورخ موسی خورني په پینځمه میلادي پیړۍ کې په خپله جغرافیا کې کښلي، بهلي بامیک همدا اوسنی بلخ دی او بخدي یې اوستایي او شیري بامیکان همدا بامیان دی...»
( جغرایای تاریخي افغانستان: پوهاند عبدالحی حبیبي، میوند، ۱۳۷۸، ۲۶۵ مخ )

٦ - **بخدي**: د بلخ زوړ نوم.

[7] - **لوی‌غر**: په لوګر کې د سلطان صاحب غره ته لوی غر هم وايي، ځينې په دې باور دي، چې د لوګر نوم هم له همدې څخه اخيستل شوی دی، خو په مستندو تاريخونو کې داسې څه نه‌شته. په لرغونيو متونو کې لوګر = لوکرنا او لوکرانا ياد شوی.

[8] - **شاه‌مامه**: شاه‌مېرمن يا ملکه يې لغوي مانا اخيستل شوې ده، اريانا دايرةالمعارف ليکي، چې :« په اسطورو کې [د باميان] ۵۳ متري مجسمې ته (صلصال) او ۳۵ متري مجسمې ته شاه‌مامه ويل کېدل، چې لومړی يې نرينه او دويمه يې ښځينه ګڼل شوي دي.». په دې منظومه کې شاهزۍ او شهۍ نومونه هم د شاه‌مامې لپاره کارول شوي دي.
( هماغه اريانا دايرةالمعارف، ۲- ۵۸ مخ )

[9] - **د اوبو الاهه (انايتا = اناهيتا)**: اناهيتا د اوبو ښځنه، د ناهيد يا زهرې ستورې نوم هم دی. په لرغونې اريانا کې يې د اوبو، باران، کرنې و اوبخور ښځنته بلله، اناهيتا تر زردښت پخوانۍ ده. **سورا اناهيتا اورو** Sura – Anahita – Aravi يا د اوبو الهه يې القاب وو. ختيځپوهانو د امو د سيند نوم هم ګڼلی ده. د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې د انايتاپرښتنې نښې او د دغې ښکلې ښځينه خدايګوتې پڼې (مجسمې) موندل شوې دي.
(هماغه اريانا دايرةالمعارف - ۱- ۷۹۱)

[10] - **سوريا:** سوريا Surya په لرغونې اريانا او هيندوستان کې د لمر او رڼايي ښځنته ګڼل شوې، د سباوون او لمرراختلو سېمبول هم بلل کيږي. په ويدي سرودونو او ريګويدا کې ګڼ ځله ياده شوې ده. سورج (لمر) يې

پلار یاد شوی، چې د اوشاس Ushas یا سباوون (د سهار رڼا) له میرمنې څخه یې زېږولې وه. د سوریا بګی د لمر سترګې لپاره استعاره ده.
(هماغه اریانا دایرةالمعارف – ۴- ۶۴۴)

[۱۱] - **انایتا = اناهیتا:** ← د اوبو الاهه.

[۱۲] - **پاچامیراو**: میراو، شاه میراو، شاه‌بامیان، میر، امیر د لرغوني بامیان واکمن. په لرغوني بامیان کې د اوبو تنظیم مهمه او سپېڅلې دنده وه ځکه دغه مقام او دنده د انایتا (اناهیتا) نیابت ګڼل کېده، ځکه خو د اوبو د ویش دنده د پاچا وه، یا هغه چا چې د اوبو ویش تنظیماوه پر خلکو یې واکمني هم کوله.

[۱۳] - **سلسال**: د بامیان لویه مجسمه ځینو (سلسال) او ځینو نورو (صلصال) ګڼلې ده. سلسال د خوږو، یخو او رڼو اوبو بهیر ته وایي، چې ترستوني تېرېږي. همدا راز تر ستوني تېرېدونکیو پستو شرابو ته هم ویل کیږي.
(فرهنګ نفیسی، خیام، جلد ۳ صفحه ۱۹۲۳ )
صلصال له شګې سره ګډه شوې خټه، ښه خټه، هغه خټه چې لا ورڅخه ختین لوښی جوړ شوی نه وي.
( هماغه فرهنګ نفیسي، جلد ۳ صفحه ۲۱۶۲)
خوشال بابا فرمایي:

محبت د همای سیوری دی که څه دی
که کیمیا دی، زر کوي سنګ و صلصال

که څه هم د مجسمې ظاهري بڼې ته په پام به د «صلصال» نوم ورلنډ وي، خو په دوو دلایلو د «سلسال» نوم غوره بریښي؛ لومړی دا چې دا «شاه‌مامه»

سره په غبرګون د شخص نوم دی، نه د ختې. دويم په کيسه کې د اوبو او د اناهيتا (اناهيتا) ونډې ته په پام د خوږو او رڼو اوبو په مانا دلته اسم بامسما ګڼلای شو. په منظومه کې شاهزی، شها او پهلوان د سلسال لپاره کارول شوي ستاينومونه دي.

[١٤] - **ساکان**: يو لوی اريايي ټبر دی. ساک يا ساکان، زړه پارسي سکه saka، يوناني سکيت، او سيت Scyt د اريايي يا هيندوآريايي او بيا آرياني ژبتوکميزې څانګې له پينځو څانګو څخه يوه ستره او بيا باختري څانګه ده... پخپله د پښتنو نيکونه او ژبه يې ( ساکي) د پښتو نيا (انا) ښوول کيږي. ( پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې: پوهاند م. ا. زيار، دانش؛ **١٣٩٤** دوهم چاپ،٦١١-٦١٢ مخونه)

[١٥] - **تورمان:** تورامانا، زابل شاه، دغه زابلي واکمن په هيندوستان کې د يپتليانو د سوبو پوځي مشر و. دی د زابلي قبايلو له مشرانو څخه و، چې په اريانا کې يې خپله واکمني ټينګه کړه او د ګوپتا (سکاندا ګوپتا) پرمهال يې د اريانا پر لويه برخه خاوره حکومت کاوه.
(هماغه اريانا دايرةالمعارف - ٢ – ٩٧٢)

[١٦] - **سورغر:** په زابل کې د يوه غره نوم دی، استاد حبيبي ليکلي: «سورغر د شاه‌جوی او اولان شمال ته يو غر دی.»

پر سور غر بل راته نن اور دی
وګړيه جوړ راته پيغور دی
باباهوتک

[۱۷] - **ترنک:** ترنک په زابل کې د يوه سيند او سيمې نوم دی. ملکيار بابا ويلي وو:

ترنک بهيږي
ترنک بهيږي
غاړې تر غاړې
زما زړګی خو
خپل لالی غواړي...

[۱۸] - **هراويتي:** هرای ويتی، د ارغنداو سيند او سيمې زوړ نوم دی. ځينو سپېڅلې سراسوتي هم همدغه سيند ګڼلی دی. استاد کهزاد ليکي « دا نوم اوسنا د ارغنداو ښکلې سيمې ته ورکړی دی. دلته هم (هرا) د (اريا) د لرغونې ريښې استازولي کوي.
(تاريخ افغانستان: احمدعلي کهزاد، انجمن تاريخ ۱۳۲۵، لومړی ټوک، ۴۱ مخ)

[۱۹] - **ناوور:** ناور، ناهور د غزني يوه ولسوالي ده. د ناور دښته او هلته ولاړې اوبه ښکلي مناظر لري. په دې سيمه کې د خورا لرغونې دورې انساني ژوندنښې موندل شوې دي، چې ښيي تر سل زره کاله پخوا دلته انساني ټولګي اوسېدل. مشهور افغانستان پېژندونکی لوئيس دوپري په دې اړه په زړهپورې څېړنې لري، وګورئ:
" New prehistoric localities in the Dasht-i-Nawur / Louis Dupree and Richard S. Davisin: Afghanistan, vol. ۲۹, no. ۳, ۱۹۷٦, Kabul."

[۲۰] **- د سهاک کلا:** په بامیان کې د سهاک کلا پاتې شونې د دغه ولایت له مهمو تاریخي میراثونو څخه دي. روستیو میرزایانو، د عربځپیو منشیانو په ړانده تقلید، د سهاک کلا په غلطه « د ضحاک کلا» لیکلې ده. پوهاند عبدالحی حبیبي لیکي:
« د دغه ضحاک په نامه تر اوسه هم د بامیان د ضحاک ښار مشهور دی او دا نوم په پښتو منابعو کې ساک دی. چې تر اوسه هم موږ په پښتو قبیلو کې ساک لرو او د سهاک هم نوم ږدو. د سیستان سهاکزي او د فارسي ادب سګزي او سهاکا تاریخي تازنده قوم چې سګستان او د عربو سجستان د دوی په نامه یادیږي او تراوسه هم سهاکزبان په سیستان او هلمند کې اوسي.» ( هماغه جغرافیای تاریخي افغانستان، حبیبی، ۳۴۵ مخ )

[۲۱] **چنګ:** د بامیان مجسمو د رواق په خورا ارزښمنو انځورونو کې یوه هم د چنګغږونکیو نجونو نقاشي وه، چې د لرغونپوهانو له خوا بېسارې ګڼل کېده، دا انځور د هېواد پیاوړي انځورګر استاد یوسف کهزاد په یوه تابلو کې بیاځلې وپنځوله او پوهاند دکتور رحیم الهام په یوه ښکلې مثنوي کې ستایلې وه، چې پیل یې داسې وو:

ای خداوند طرب را دختران
آسمان ذوقِ ما را اختران
یادگار جاودان آریان
لعبتانِ باستانِ بامیان
قاصدان نازنین سوز و ساز
پرده برداران خلوتگاهِ راز
در گلوی تان شگفت آواز بود
تار های چنگ تانرا ساز بود

[۲۲] - **ناویهار:** ویهار، ویهارا، ناواویهارا، ناویهار په بلخ کې یوه لرغونی مزدک دی، چې درې سره میترایي، اوستایي او بودایي مدنیتونو سپېڅلی ګڼلی دی. استاد کهزاد یې په اړه لیکي: « وارا، چې اوستا کې یاد شوی او د بنسټ دبره یې یاما / جمشید ایښې وه د بلخ ښار مرکزي سیمه ده، چې تر اوستایي دوران روسته هم له منځه تللې نه ده... د اسلامي دورې شاعرانو او مورخینو له «ویهارا» څخه (بهار) او له «ناواویهارا» څخه (نوبهار) جوړ کړی دی، چې تر اوسه د بلخ د نیمه‌نړېدلي ښار د جنوبي دیوال یوه دروازه د نوبهار په نامه مشهوره ده. نو ښه پوهېدلای شو، چې د بلخ د ودانی نښه، جمشید جوړه کړې مانۍ «وارا» زموږ د ملي تاریخ په اوږدو کې هېره شوې نه‌ده او د بودایي زمانې «ویهارا – ناواویهارا» او د اسلامي دورې «نوبهار» یې هغه لرغوني نوم تراوسه ساتلی.

(هماغه تاریخ افغانستان: کهزاد / ۲۲۸مخ)

[۲۳] - **نانگراهار:** ننگرهار، چیني گرځندوی هیوڅانگ «ناگارهارا» یاد کړی. اکاډمیسین پوهاند رشاد دا د نهو غرونو په مانا رااخیستې: « په ننگرهار کې د هار برخه یې ما ته داسې ښکاري، چې د غرو په معنی وي او ((ننه)) داسې معلومیږي، چې نهه غرونه په دې ځای کې شامل وي، لکه سپین غر، تور غر... او نور.

ننگرهار یعنی د نهو غرونو سیمه. ځینو متشرقینو دا نهه غرونه سره شمارلي هم دي.»

وگورئ:

(د سیمو تاریخي جغرافیه: له علامه استاد اکادمیسن پوهاند رشاد سره د مرکو ټولگه، میوند، نشر ۱۳۸۲)

[۲٤] - **کاسغر:** کاشغر، ما پخپله له اکاډمیسین پوهاند رشاد څخه اورېدلي و، چې ساکانو د چیني کاشغر په سیمه واک درلود او د دغې سیمې اصلي نوم د کاسیانو غر یا کاسغر دی، چې روسته په کاشغر اوښتی دی.

[۲۵] - **څلورچینې**:
بودیزم ښوونه کوي، چې ژوند له کړاو ( درد و رنځ ) څخه ډک دی، خو دا هم ښیي چې د کړاو پای ته رسولو لپاره یوه لاره شته. په دې لاره کې څلور حقیقتونه او اته اصلونه خورا مهم دي، څلور چینې دغو څلورو سپېڅلیو حقیقتونو ته اشاره ده.

۱. د کړاو (درد و رنځ) حقیقت (دوکهه)؛ ژوند له کړاوونو او ناخوښۍ څخه ډک دی.
۲. د کړاو د لاملونو حقیقت؛ کړاو د نفسي غوښتنو او په دغو غوښتنو پورې له زړه تړلو راپیدا کېږي.
۳. د کړاو د پای‌ته‌رسېدو حقیقت؛ دا ممکنه ده چې کړاو پای ومومي.
٤. د کړاو د پای‌ته‌رسېدو د لارې حقیقت؛ داسې لاره شته، چې کړاو پای ته رسوي.

(هماغه اریانا دایرةالمعارف - ۲- ۲۴۷ مخ)
(بودا:کَرِن آرمسترانګ، نسترن پاشایي ترجمه، انتشارات فراروان، ۱۳۹۲ : بېلابېل مخونه)

[۲٦] - **اته ډنډونه**:
د کړاو د پای ته رسولو لاره اته اصلونه لري، چې اته ډنډونه همدغو اصلونو ته اشاره کوي:

۱. ښه لیدل : د حقیقت درک او د څلورو سپېڅلو حقیقتونو پېژندنه.
۲. ښه انګېرل: د اخلاقو او ذهن ښه والي ته ژمنتیا.
۳. ښه ویل : ریښتینې او مهربانه خبرې کول.
٤. ښه کول : اخلاقي چلند او له زیان‌رسولو ځان ساتل.
۵. ښه ګټل : له داسې لارې ګټه کول، چې بل ته یې زیان ونه‌رسیږي.
٦. ښه هڅه : د مثبتو ذهني حالتونو وده و روزنه
۷. ښه ځانپوهه و ویښتیا: اوس پېژندل او ذهني ویښتیا
۸. ښه تمرکز: د مراقبې (مدیتېشن Meditation ) له لارې د ژور ذهني تمرکز ایجاد.

دغه ښوونې د روښانتیا او د ځان‌دننه سولې خوا ته لارښوونه کوي.
(هماغه اریانا دایرةالمعارف - ۲- ۲۴۷ مخ)
(هماغه بودا: کَرِن آرمسترانګ : بېلابېل مخونه)

[۲۷] - **اړونه**: شرطونه

[۲۸] - **ساکیاموني:** ساکیاموني د بودا لقب و. مانا یې ده د ساکانو حکیم یا د ساکانو د قبیلې پوه. په دې اړه ګڼې مستندې لیکنې شته چې بودا له ساکي قبیلې څخه و او د ساکانو د حکیم (ساکیاموني) په نامه یادېده. د نورو معلوماتو لپاره کتلای شئ:

**Shakyamuni Buddha**, Nikkyo Niwano, publication: Kosei Publishing Co, ۱۹۸۹

او

**The Princeton Dictionary of Buddhism**, Robert E. Buswell Jr. & Donald S. Lopez Jr.
Publication: Princeton University Press, ۲۰۱٤

[۲۹] - **باګرام:** د لرغونې ګندهارا یوه مهمه برخه د باګرام په نامه یادېده، چې د اوسني پېښور شاوخوا سیمي دي. دا د کاپیسا په ولایت کې د نیلاب پرغاړه پروت تاریخي بګرام څخه بېل ښار دی، چې د کوشاني پېر د ژمي پلازمېنه هم بلل شوې ده.

[۳۰] - **تاکسیلا:** تکسیلا، تاکشیلا په لرغونې ګندهارا (اوسنی پښتونخوا) کې یو له ترټولو مهم تاریخي ساکي ښار و، چې ګڼ بودایي میراثونه په‌کې دي. دا د ساکي مدنیت له مهمو پلازمېنو څخه ګڼل کیږي.

[۳۱] - **بګولان:** اوسنی بغلان، چې پخوا یې بګولان یا بګولانګو Bagolango بللی، لغوي مانا یې مزدک یا د ځښتن Bag د لمانځنې ځای دی.
د سرخ‌کوتل په مهمه کتیبه کې په همدې نامه یاد شوی دی. بګولان (بغلان) د کوشاني اېمپراتور کانیشکا پرمهال له مهمو ښارونو څخه و.

[۳۲] - **نیروانا:** نیروانا د بودیزم یوه بنسټي او روستۍ موخه ده. دا د انسان د روح د بشپړې آزادۍ «خلاصون/ رهایي» او د کړاو د پای حالت ته وایي. نیروانا هغه حالت دی چې په‌کې انسان له دوکهه ( درد و رنځ، ناارامۍ او ناخوښۍ) څخه وژغورل شي، او د **سمسارا** (د ژوند و مړینې او بیا زیږېدو په څرخ کې له بیا بیا راتللو) څخه بهر وځي. هغه څوک چې نیروانا ته رسېږي، نور د بیا زیږېدو او دونیایي کړاو سره نه‌مخ کیږي.

له نفسي غوښتنو څخه خلاصون: په نیروانا کې ټولې غوښتنې، له دونیا سره تړاو، ناپوهي او د "زه" ځانځاني له منځه ځي. دا یو داسې حالت دی چې په کې انسان بشپړه رواني، روحاني او دروني سوله او رهایي ترلاسه کوي. نیروانا د جنت یا بل کوم فزیکي ځای په شان نه دی، بلکې دا یو ذهني او روحاني حالت دی. د مطلقې پوهې، رواني سولې، او روښانتیا حالت.
د بودیزم د ښوونو پربنسټ، نیروانا د ژور فکر، مراقبې (مدیتېشن)، اخلاقو، د څلورو حقیقتونو د پېژندنې او اتو اصلونو ته د ژمنتیا له لارې ترلاسه کېدای شي. دا یوه ژوره پوهه او درک غواړي چې انسان د څلورو سپېڅلو حقیقتونو مفهوم وپېژني .
(هماغه اریانا دایرةالمعارف - ۲- ۲۴۷ مخ)
( هماغه بودا: کَرِن آرمسترانګ : بېلابېل مخونه)

[۳۳] - **شاه‌پولاد:** شاه‌فولادي د بابا غره تر ټولو لوړه څوکه ده.

[۳۴] **د اژدر دره:** د بامیان له ښار څخه مخ په شمالغرب اته کیلومتره لرې یوه دره پرته ده، چې په کې د ښامار په بڼه یوه اوږده سپین‌بخونه ډبرینه غونډۍ (غرګکی) شته، ښایي دغه ښامارډوله غره ته په پام، دې سیمې ته د اژدر دره وایي. ډبرین ښامار اوږد او کوږ وږ پروت دی. ځینې ځایونو کې ۱۲ متره لوړ، شاوخوا لس متره پلن او تقریباً ۲۴۰ متر اوږد دی، چې په سر یې یو اوږد چاود ښکاري؛ داسې، لکه په توره چې وهل شوی او نیم کړای شوی وي. د ښامار سر ته یوه چینه راوتلې ده. د دغه ډبرین ښامارډوله کوشني غره لیدو ته سیلانیان ورځي او په سیمه‌ییزو خلکو کې یې په اړه بېلابېلې افسانې شته.

[٣٥] - **کبرګل:** کبرګل یو کمیاب غرنی ګل دی .د زنبق په بڼه، خو غټ او ښکلی ـ له منځنی برخې یې هر څو شېبې روسته یو روڼ څاڅکی رارغړي. د دې ګل په اړه یوه اسطورهیي کیسه هم شته.

[٣٦] - **ګندهارا:** ګندهارا یوه لرغونې اریایي تمدني حوزه ده، چې مدني تاریخ یې تر ٥٠٠٠ کاله اوړي. لرغونیو اریایانو ختیځ ته د خپل کوچ په لومړیو پړاوونو کې دغه سیمه ودانه کړه. هېرودت د خپل تاریخ په دریېم ټوک ۳۱ م مخ کې ګندایوس Gandayos بللې. په باختري ژبه یې غندارا او په زړه پاړسي کې ګدارا یاده شوې ده. ګندهارا د اوسنی پښتونخوا او د ګران افغانستان ختیځې څنډې رانغاړي او حدود یې یوه پراخه جغرافیا ته پراخیږي، چې د پېښور په ګډون ګڼ تاریخي ښارونه په کې شامل دي. په بودایي تاریخ کې د ګندهاري هنر مکتب تر ټولو مهم مکتب ګڼل کیږي. (هماغه اریانا دایرةالمعارف، شپږم ټوک ۱۲۳ مخ )

[٣٧] - **هډه:** هډه د ننګرهار په ولایت کې یوه مهمه تاریخي سیمه ده، چې د لرغونې ګندهارا فرهنګي پلازمېنه ګڼل کیږي. ارواښاد پوهاند محمد رسول باوري یې په اړه لیکي: « د ګندهارا یو ستر فرهنګي مرکز د اوسني جلال‌اباد مرکز ته څېرمه د هډې سیمه ده، چې په پخوانیو متونو کې د (هیلو) په نوم یاده شوې ده. هیلو د لرغونو بودایانو د تبرک ځای او د هغو د عبادت ستر ټاټوبی و. » د هډې یاد په ګڼو تاریخي اسنادو کې شته.

[٣٨] - **اراکوزیا:** اراکوزیا، په نني کندهار کې د ارغنداو سیمې لرغونی اریایي نوم دی. یونانیانو ( اراکوزي) بللی. د سراسوتي یا هراویتي (ننی ارغنداو) یې مهم سیند بلل شوی. د دغه ښار خلک اراکوتي نومول شوي. یوناني/

مصري جغرافیاپوه بتلیموس (بطلیموس) د ارغنداو سیند پرغاړه یو ښار یادوي چې نوم یې اراکوتوس Arachotus و. مکدوني الکساندر په دې سیمه خپلې پوځي چونۍ الکساندریې هم رغولې وې.
(هماغه اریانا دایرةالمعارف، ۱ ټوک، ۳۵۹)

[۳۹] - **سیکاراما:** سیکارام د سپین‌غره لوړه څوکه ده. د افغانستان په سهیل کې یوه سیمه (د پکتیا ولایت یوه ولسوالۍ) چې اوس یې په ناسمه توګه (سیدکرم) بولي هم له تاریخي پلوه سیکاراما بلل شوې، د دغې لوړې څوکې بلې غاړې ته د کورمې (کاراما، که‌ره‌مه) نوم هم له دې سره تړاو لري. ما له خپل استاد پوهاند رشاد څخه اورېدلي وو، چې په سیکاراما (نني سیدکرم) کې په همدې نامه یوه مهم لرغونی پوهنتون و، چې بودایي لارښوونې په کې تدریسېدې. کارما یا کَرمَه یا کَرمَن په سانسکریت کې (कर्म) د بودایي لارښوونو په لړلیک کې یو فیلوسوفیک مفهوم ګڼل شوی چې د علت و معلول په اړیکه بحث کوي.

[۴۰] - **ریشي:** په سانسکریت کې "ریشي (ऋषि) "هغه حکیم، شاعر، عارف، یا روحاني شخص ته ویل کېده چې د الهامي پوهې یا الهام له لارې یې حقایق درک کړي وي. ریشیان د ویدي ادبیاتو (ویدونه، اوپانیشادونه، او نورو مقدسو متون) اصلي لیکوالان ګڼل کېږي.
مشهور ریشیان لکه : وېاسا (Vyasa) د مهابهاراتا لیکوال او د ویدونو ترتیبوونکی، واشیستا (Vasishtha) یو له اوو ستر ریشیانو (Saptarishi) څخه، ویامادېو، ګوتما، کانډا، پتنجلي او نور پېژندل شوي ریشیان دي.

[٤١] - **د درد و رنځ څرخ:**
په بودیزم کې د درد او رنځ (کړاو) دغه نه ختمېدونکي څرخ یا دوران ته **سامسارا** (Samsara) په سانسکریټ संसार وايي.
سامسارا (تناسخ) د ژوند او مرګ تکرارېدونکی دوران دی، چې موجودات په‌کې بیا بیا پیدا کېږي، ژوند کوي، کړاو ګالي، مري او بیا پیدا کېږي. دا دوران له کړاو ډک بلل کېږي. دې تکرارېدونکي کړاو ته دوکهه (Dukkha) وايي. دوکهه له ناخبری (Avidya) هوس/ تمې( Tanha / Lobha) او کرکې و غوسې(Dosa) څخه سرچینه اخلي.

[٤٢] - **سجاوند:** سجاوند، سکاوند، سګاوند - د لوګر ولایت په برکي برک ولسوالۍ کې د یوه لرغوني ښار نوم دی. د تاریخي جغرافیو په ګڼو کتابونو، له هغوڅنې په حدودالعالم کې یې ذکر شته: « دو شهر اند خرد بر دامن کوه نهاده و سکاوند را حصاری است محکم و جای بسیار کشت و برز است.»
( حدودالعالم من المشرق الی المغرب، مؤلف نامعلوم، مقدمې ژباړه پوهاند میرحسین شاه، ۱۳۸۳، ۳۲۴ مخ )

نشیمن گــــرفت از سکاوند کــوه
همی دارد از رنج گیتی ستوه
اسدی

په سکاوند کې لومړی سک د ساک او سهاک له ریښې څخه مشتق شوی ګڼل کېږي. په دغه لرغوني ښار کې یو خورا لوی برهمني مزدک چې ګڼو سرچینو یې د عظمت او ښکلا یادونه کړې ده، هم ودان و، چې اوس یې یوازې کنډوالې پاتې دي.

[٤٣] - **اوزبین:** د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ یو کلی دی. دغه کلی پخوا د روانو اوبو او سمسورو ورشو ګانو له برکته د رمو او مالدارۍ پاللو له اړخه مشهور و.

[٤٤] - **منارونه (غور):** د جام له مشهور منار پرته ( چې په اسلامي پېر کې جوړ شوی) غور پخواني منارونه هم لرل، چې د وریښمو د لارې منزلونه یې په نښه کول، داسې منارونه په غور، بامیان، غزني، کابل، خوردکابل، سروبي، د لغمان بادپښ او ګڼو نورو هغو سیمو کې ودان شوي وو، چې بودایي زیارتکوونکیو او د وریښمو د لارې کاروانونو ته یې لار ښووله، منارونه داسې جوړ شوي وو، چې د ورځې به یو له بل څخه ښکارېده او د شپې به یې پر سر اور بلېده چې کاروانیان لار ومومي. د دغو منارونو یوه مهمه نښه د چکړي منار و، چې په روستیو کلونو کې ونړول شو، درې هغه یې په بادپښ کې اوس هم شته.

[٤٥] - **سوګد:** سوکد، سوګد، سغد د بلخ شمال ته تر سیند هاغاړه د اریایي تمدن یو مهم لرغونی ښار دی، چې اوس د تاجیکستان او اوزبیکستان ترمنځ ویشلی دی. د اوسمهالي تاجیکستان له څلورو ولایتونو څخه یو یې سغد نومیږي، چې مرکز یې د خجند ښار دی، خو دا د لرغوني سغد یوه برخه ده. سغدي ژبه د هیندواریاني ژبو یوه مهمه لرغونې ژبه ده. ځینې لرغونپوهان د سوګد نوم د ساکي ژبې له Skuds څخه اخیستل شوی ګڼي، د ساکانو یوه لویه پښه پاراسګدیا نومېده چې په همدې سوګد کې هستوګن وو. د استاد کهزاد د لیکنې له مخې سغد یو له هغو ۱٦ تو‌ټو زمکو څخه و چې په اوېستا کې یې یادونه شوې ده. د وندېداد په لومړي باب کې تر (ایریانم ویجو) روسته دویم نوم د سغده Sughdha راغلی.

(هماغه تاريخ افغانستان: کهزاد ۲۷۴ مخ)

[٤٦] - **ساکستان:** ساکستان، سيستان، سګستان، سګزستان، سجستان او سقستان ( معرب) اوسنی سيستان چې د افغانستان او ايران ترمنځ په دوو سيستانونوويشل شوی، له اره ساکستان و او هغه هم له درېيمې مخزېږدې پېړۍ راهيسې، چې باختري ساکان ورته راوکوچېدل، تر دې مخکې يې زرنګ باله، ، ساکستان د هېلمند اوبو له برکته سمسور او ښېرازه هېواد و، چې اوس يې لويه برخه په افغانستان کې ده.

( هماغه پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې: زيار : ٦١٥ـ٦١٦)

[٤٧] - **پژې** : = مجسمې

